د خلکو مدحه او ستاینه مو نفسونه درته چاغوي او اخلاص مو له منځه وړي ، نفس چې هر څومره چاغیږي ، ستاسو او د الله تعالي تر منځ فاصله ډیریږي.

# د کتاب له پاڼو

راټولونه او ترتیب : اجمل هیوادمل

Ketabton.com

[DATE]

۱۴۰۴/۱۱/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان: د کتاب له پاڼو

راټولونه او ترتیب: اجمل هېوادمل

منبع : ټیلیګرام چینل

نشر: اول ډیجیټل

واټساپ: ۰۷۷۶۵۹۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Contents


❖ واوره: 9
❖ محمد یوسف: 9
❖ ابن حجر: 9
❖ اخیره زمانه به څنګه پیژنو؟ 9
❖ رېښتوني ملګري نشته: 10
❖ د حالاتو کنترول: 10
❖ ماښامنی حدیث! 10
❖ زموږ اسلاف: 10
❖ یوه عجیبه واقعه: 12
❖ مـــــلغلـــــره: 13
❖ مـــــلغلـــــره : 13
❖ ملغلرې: 13
❖ د کتاب په څیر مه جوړېږه: 14
❖ د حجاج ځیرکتیا: 15
❖ مسکین : 16
❖ د رسول الله ﷺ د ځلورو یارانو، ځلور خبرې: 16
❖ *بهلول دانا رحمه الله یوه عجیبه قیصه!* 16
❖ لقمان حکیم وایي: 17
❖ افغانان څنګه اصلاح کړو؟ 17
❖ خیانت: 17
❖ د ژوند شپږ اصول: 18
❖ انسان درې ډوله مري: 18
❖ رسول الله ﷺ وفرمایل، 19
❖ مـــــرغلـره: 20
❖ انګیزه: 20
❖ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله: 21
❖ د ګناهونو رېښه درې شیان دي: 21
❖ یحیی بن معاذ فرمایي: 22
❖ دوینو باران: 22
❖ انګیزه: 24
❖ د ژونـــد ســـرچـــپه کــــارونه: 24
❖ ښکنځل مکوئ: 25

(c) ketabton.com: The Digital Library


❖ امام ندوي رحمه الله فرمايي: 25
❖ انګیزه: 26
❖ انګیزه: 26
❖ د حجاب ګټه: 26
❖ امام حسن بصري رحمه الله عليه وايي: 26
❖ پند: 26
❖ د حافظې د قوت له پاره نسخه! 26
❖ عبرت: 27
❖ ژوند: 27
❖ لـور: 27
❖ رسول الله ﷺ فرمائي: 27
❖ خبره: 28
❖ اي انسانه: 28
❖ خبره: 28
❖ تجربه: 28
❖ خبره: 28
❖ بې هدفه ژوند: 28
❖ پنځه عادتونه همدا اوس پريږدئ: 29
❖ په ژوند کې مي لويه تيروتنه دا وه : 29
❖ انګیزه: 29
❖ د ماراډونا د خپلې ژبې يوه خاطره! 29
❖ فکر: 29
❖ د ځان محاکمه: 29
❖ ګل خبره: 29
❖ د يوه عالم تحليل: 30
❖ ځان له شره خلاصول: 30
❖ اخلاقي کنايه: 30
❖ زنګ وهلی ذهن: 30
❖ غلط انتخاب: 30
❖ درې ډوله عمل: 30
❖ محبت: 31
❖ دايمان رينښي: 31
❖ نيکمرغه ژوند: 31

(c) ketabton.com: The Digital Library


- جنت او دوزخ: ........ 31
- هدف: ........ 32
- ګل خبره: ........ 32
- طلايي خبره : ........ 32
- د مور خدمت: ........ 32
- وتعز من تشأ: ........ 32
- پام: ........ 32
- د فکر خبره: ........ 33
- ګل خبره : ........ 33
- انګيزه : ........ 33
- قيمتي خبره: ........ 33
- خبرداری: ........ 33
- د استغفار ګټي: ........ 33
- حسن بصری وايي: ........ 33
- خپل عمل د لاري مل: ........ 33
- فکر: ........ 34
- د دروغو بدبوي: ........ 34
- د خوښی په اړه: ........ 34
- خبر اوسه: ........ 34
- حکايت: ........ 34
- غوښتنه: ........ 34
- دعا: ........ 34
- راز: ........ 35
- ځيرکتيا: ........ 35
- عاجزي: ........ 35
- غير مسلم عرب وايي: ........ 35
- يو شاعر وايي: ........ 35
- يو بزرګ وايي: ........ 35
- د يوي سکې دوه مخه: ........ 35
- د بيغمي راز: ........ 35
- د ژوند لنډيز: ........ 36
- تقوا: ........ 36
- حکايت: ........ 36

(c) ketabton.com: The Digital Library


❖ بي باوره ژوند: 36
❖ ملغلره: 36
❖ حجاب : 36
❖ چلند: 36
❖ دوستي: 36
❖ انګيزه: 37
❖ د_قبر_اواز.!! 37
❖ مسلماني_ميرمني: 37
❖ رسول الله ﷺ فرمائي: 37
❖ مرګ: 37
❖ امام شافعي (رح) فرمايي: 37
❖ إمامُ ابنُ القيّم وايي: 37
❖ د_مرګ طلب مه کوئ: 38
❖ ببله بلني د هيچا ميلمستيا ته مه ځئ: 38
❖ قال الله تعالی: 38
❖ هڅونه: 38
❖ نومورکی غني: 38
❖ عدالت: 39
❖ ملغلري: 39
❖ قال الله تعالی 39
❖ هڅونه 39
❖ حکايت: 39
❖ چاپلوسي کول! 39
❖ ژمی: 40
❖ ګناه: 40
❖ فضيل بن عياض -رحمة الله- وايي: 40
❖ ستا نه زيات مهربانه ده: 40
❖ عزت: 40
❖ له مرګ ويره: 40
❖ د حقيقت اظهار: 40
❖ الهي غبرګون: 41
❖ د دنيا مثال: 41
❖ د خلکو انحراف: 41

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ اعتدال برى ده: 41
❖ انسانان: 41
❖ ګلخبره: 41
❖ د زړه سوځيدل: 41
❖ اثر: 41
❖ رسول الله ﷺ فرمايي: 41
❖ عمر ثاني: 42
قيمتي خبره: 42
❖ اول ځان بيا جهان: 42
❖ غوره انسان څوک دی؟ 42
❖ رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: 42
❖ رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: 43
❖ بهتر څوک دي؟ 43
❖ تر سخت تعقيب لاندي يو: 43
❖ له بهتانه ډډه: 43
❖ حساب وکړه: 43
❖ حقيقي ملګرى: 43
❖ دا په ياد ولرئ! 43
❖ ملغلره: 44
❖ حضرت على بن ابي طالب رضي الله عنه فرمايلي دي: 44
❖ دنيا: 44
❖ درى کلمات: 44
❖ پر الله انتقاد : 44
❖ د ګناه کيفيت: 45
❖ عقلمند: 45
❖ د لمانځه کيفيت: 45
❖ موسکا: 45
❖ ملغلري: 45
❖ د عبادت خوند: 45
❖ ابن سنا بلخی: 46
❖ ګوره يي نامرده: 46
❖ له تروشو خوړ شربت جوړ کړه: 46
❖ پريشاني له کومه راځی ؟ 46

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ رسول الله ﷺ فرمايي* ........ 46
❖ په واک کې نه لرل: ........ 46
❖ د غتي بيزو عدالت: ........ 46
❖ ابن القيم رحمه‌الله: ........ 47
❖ بې ارزښته افتخار : ........ 47
❖ دعا غوښتنه: ........ 47
❖ د قرانکريم زده کړه : ........ 47
❖ القرني وايي: ........ 47
❖ د جهالت قيمت: ........ 48
❖ مـرغـلـره: ........ 48
❖ وخت او دولت: ........ 48
❖ يوه عالم څه ښه ويلي: ........ 49
❖ د دنيا لپاره د چا عزت مکوه! ........ 49
❖ خداي ته شا ګرځول : ........ 49
❖ د متقيانو پنځه اخلاق: - ........ 49
❖ د فتنو نړی: ........ 49
❖ امام ذهبي رحمه الله: ........ 50
❖ ژباړه: ........ 50
❖ مالک بن دينار رحمه الله : ........ 50
❖ علي الطنطاوي رحمه الله وايي: ........ 50
د يو مسلمان ورور اړتيا پوره کول: ........ 50
❖ *تـوبـــه* ........ 50
❖ پيغمبر ﷺ وفرمايل: ........ 51
❖ د مؤمن او فاجر توپير: ........ 51
❖ هغه نسبي ښه شيان چي انسان ورځخه بد وړي: ........ 51
❖ هغه ځوک چي ملګرتيا بايد ورسره ونکړي: ........ 51
❖ بې عمله دعاء: ........ 52
❖ پر مسلمان باندي د ناحقه خبري سزا: ........ 52
❖ د هر مسلمان بايد دغسي عقيده وي: ........ 52
❖ *امام شافعي رضی الله عنه فرمايي:* ........ 52
❖ *امام زهری رحمه الله فرمايي:* ........ 52
❖ *ابن القيم - رحمه الله تعالی -* ........ 52

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ واوره:

یو بزرګ ویلي دي، چې ماته د واورې له خرڅونکي څخه سخت عبرت حاصل شو، هغه به خلکو ته نغرې وهلې، اې خلکو! په ما باندې رحم وکړئ، له ما سره داسې سرمایه موجوده ده، چې هره لمحه لږه – لږه ختمیږي، همدا ډول زموږ حالت هم دی، چې هره لمحه مو د عمر لږه – لږه حصه د واورې په څېر ختمیږي او ویلې کیږي، مخکې لدې چې عمر مو د واورې په څېر ویلې شي فکر وکړئ! مخکې لدې چې مشغول شي، د فراغت وخت غنیمت وګڼه!، زندګي مخکې له مرګ څخه غنیمت وګڼه او کار کول شروع کړه! (تحفة المدارس ص۱۴۹ ج۲

❖ محمد یوسف:

د حضرت مولانا محمد یوسف صاحب رحمه الله په حالاتو کې لیکل شوي، چې د هغه له ډیرې کم عمرۍ څخه له علم سره شوق وو، د عامو هلکانو په څېر له خپلو مسؤلیتونو او فرائضو څخه غافل نه وو، په لوبو کولو یې خپل وخت نه ضایع کاوه، کله چې یې په فقه او حدیث کې شروع وکړه؛ نو هغه مبارک به په علم کې په پوره توګه مشغول وو، د ورځې هیڅ کومه حصه داسې نه ده پرې تیره شوي، چې دی یکې خالي ناست وي او په لاس کې دې کوم کتاب نه وي ورسره، هغه به هیڅ کله هغه څه نه خوښول، چې په تعلیم کې به ورته خلل جوړیده.

❖ ابن حجر:

له حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله سره د وخت زیات قدر وو، ده به خپل وخت ډېر ښه مدریت کاوه، هیڅ وخت به خالي نه کیناست، ضرور به یې درې کارونه کول، یا به یې مطالعه کوله، یا به یې تصنیف او تألیف کاوه او یا به په عبادت کې مصروفه وو.

وایي کله به چې د تصنیف او تألیف په کار کې مشغول وو او په منځ کې به یې د قلم نوکه خرابه شوه؛ نو تر څو چې هغه جوړه کړي او یو دوه دقیقې وقفه وکړي، هغه وخت به یې نه ضایع کاوه او پر ژبه به یې د الله تعالی ذکر جاري وو، ویل به یې چې د قلم د نوکې د سمولو وخت باید ضایع نشي.(بستان المحدثین)

❖ اخیره زمانه به څنګه پیژنو؟

عرب کوچي وپوښتل شو چې "اخیره زمانه" به څنګه پیژنو! هغه ورته وویل چې "حق خبره" کوونکی د خپلې خبرې پیسې پرېکوي او "باطل خبره" کوونکی پخپله باطله خبره پیسې اخلي؛ دا اخیره زمانه ده!

ځینې حکماء فرمایي: له بادشاه سره چې کله د علم مرسته نه وي؛ نو دا بیا راتلونکی ذلت دی او کله چې له علم سره د عقل حمایت نه وي؛ نو دا بیا په ښکاره ډول ضلالت دی.

همدا شان فرمایي: هر کله چې الله پاک خلکو ته د خیر اراده وکړي؛ نو بادشاهان یې پوهان وګرځوي او باشاهان یې په علماوو کې وتاکي، ځینې حکماء فرمایي: د بادشاهانو لپاره علم عصمت دی؛ ځکه چې دوی له ظلم څخه راګرځوي، د حلم په طرف یې کشوي، د ضرر څخه یې منع کوي او په رعیت باندې د رحم طرف ته یې را بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ ريښتوني ملګري نشته:

مالک ابن دينار وايي: نن ورځ هيڅاته هم کوم داسي ريښتوني ملګری نه دی ورپاتي، چي د اخرت په کارونو کي يي ملا ور وتړي؛ بلکي دوی داسي دي، چي د سړي زړه ور خرابوي/ فاسد کوي. [طبقات الکبری: ۱/ ۳۲]

❖ د حالاتو کنترول:

عباسی خليفه مأمون الرشيد د خلکو حالاتو معلومولو سره خورا زياته مينه لرله، يواځي بغداد ښار کي د خلکو د حالاتو معلومولو لپاره يي په رسمي توګه اوولس سوه (1700) بوډۍ ښځي ټاکلي وې او هغوی ته يي دنده ورکړې وه چي څوک د مسلمانانو کورنيو ته د فساد او شر ارادې لري هغوی معلوم کړي.

❖ ماښامنی حديث!

کله چي معاويه رضي الله عنه امير وو، حضرت عائشي رضی عنها ته يي ليک وليږه، پکي ليکلي يي وو، ماته يو وصيت وليکه، خو داسي چي ډېر اوږد نه وي، حضرت عائشي رضي الله عنها ورته وليکل:

سلام عليك اما بعد: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي، څوک چي د خلکو په خفګان کي د الله تعالی رضا ولټوي؛ نو الله تعالی يي د خلکو لخوا څخه ساتنه کوي، مګر څوک چي د خلکو د رضا په خاطر الله تعالی خفه کوي، الله تعالی به يي همدغو خلکو ته وسپاري، والسلام عليک

(ترمذي ج۲ ص۶۷) حديث نمبر ۲۳۷۳

❖ زموږ اسلاف:

زموږ اسلاف داسي وو، چي دوی به خپل ټول ژوند، پيسي او وخت د علم په تعقيب کي مصرفول!

امام محمد بن الحسن الشيباني ته له خپل پلار څخه دېرش زره درهم په ميراث کي پاتي وو، چي له هغوی څخه يي شاوخوا پنځلس زره درهم په نحوه او شعر باندې او پنځلس زره نور هغه يي په حديث او فقه باندې مصرف کړل!

هغه په دغه درهمو باندې نه کور جوړ کړ، نه يي باغ ورباندې واخيست او نه يي ورباندې تجارت وکړ!.

- ✓ شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله فرمايي:

د خلکو مدحه او ستاينه مو نفسونه درته چاغوي او اخلاص مو له منځه وړي ، نفس چي هر څومره چاغيږي ، ستاسو او د الله تعالي تر منځ فاصله ډېريږي.

(فتح الرباني. ص ۵۶)

- ✓ عطاء الخراساني رضي الله عنه فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې یو بنده په کومه ځمکه باندې یواځې د الله تعالی لپاره سجده ولګوي؛ نو دغه ځمکه د قیامت په ورځ د دغه بنده لپاره ګواهي ورکوي او کله چې دا کس مړ شي؛ نو په غم کې یې دا ځمکه ژاړي.[الدر المنثور ٧/٤١٣]

- ابن رجب فرمايي

بې له شکه چې زړونه د تقوا او فجور بنسټ ده کله چې زړه پاک او تقوا داره وي نو اندامونه پاکي او صفايي ښکاره کوي او هر کله چ زړونه خراب شي په اندامونو خرابي ښکاره کوي (جامع العلوم والحكم)

- عبدالله ابن احمد بن حنبل وايي

پلار ته مي وويلي نصيحت راته وکړه ويل يي هميشه د خير اراده کوه تر هغو به په خير کې يې تر څو چې د خير نيت لرې. مناقب الامام احمد

- وهب بن منبه فرمايي

دنيا او اخيرت داسي دي لکه د يوه سړي دوه ميرمني که يوه رضا کوي هغه بله يي خفه کيږي

- انس بن مالک "رضي الله عنه" وايي چې

رسول اکرم ﷺ وفرمایل!

تر هغه وخته چې د لمانځه په انتظار کې ناست یاست، د لمانځه اجر در رسیږي.

```رواهُ البخاري (٦٠٠)```

- ابن القيم رحمه الله وايي:

تجربو ثابته کړې، څوک چې په ژوند کې دوکه باز انسان وي، الله‎ﷻ به يې د ذلت په مرګ مړ کوي.

(إغاثة اللهفان ١ /٣٥٨ )

- رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم فرمایلي:

" مِن أشدِّ أمَّتي لي حبّاً ، ناسٌ يَكونونَ بَعدي ، يودُّ أحدُهُم لَو رآني ، بأَهْلِهِ ومالِهِ:"

له ما نه وروسته به زما امت کې داسې کسان راشي چې له ما سره به داسې مینه کوي چې خپل اهل او مال به زما د يوې لحظې ديدار لپاره قربانوي. صحيح مسلم :(2832)

- رسول الله فرمايي

پلار د جنت منځنی دروازه ده اوس ستا خوښه ساتنه يي کوي که يي نه کوې

- حضرت شقيق بلخي رحمه الله فرمايي:
```

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک چې لـه الله تعـالی پرتـه کـوم بـل چـا تـه د مصـيبت شـکايت وکـړي، نـو د عبـادت خونـد بـه يـې په نصيب نه شي. سير أعلام النبلاء: ۹/۳۱۵

✓ إمام أحمد رحمه الله وايي:

که په يو خوراک کې څلور شرطونه جمع شول، نو دا خوراک پوره او برکتي شو.

۱. په اول کې يې د الله نوم ياد شي

۲. په اخر کې يې د الله حمد او ثناء وويل شي

۳. لاسونه ورباندې ډير شي (خوراک په ګډه وشي)

۴. حلال وي (د حرام مال څخه نه وي) زاد المعاد:۴ /

✓ په قبر کې يوازې نېک عمل په کار راځي

نبيﷺ فرمايي:

مؤمن بنده ته به په قبـر کې يو ښاېسته او خوشبودار ځوان راشي.

د قبـر والا به ترې پوښتنه وکړي، چې ته څوک يې؟

هغه ښاېسته ځوان به ځواب ورکړي، چې:

((أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ)) يعني زه ستا نېک عمل يم. مسند احمد

❖ يوه عجيبه واقعه:

يـوه ورځ يـو نصـراني زمـونږ د سـلفو صـالحينو څخـه د يـوه عـالم سـره پـه لانـدې ډول سـوال جـواب وکړ.

نصراني : ايا د اتفاقي پيغمبر اتباع بهتره ده که د اختلافي

عالم : د اتفاقي پيغمبر اتباع بهتره ده.

نصـراني : نـو تاسـو تـه پـه کـار دي چـې د محمـد ﷺ اتبـاع پريـږدئ او زمـونږ نصـرانيت تـه راواوړئ، ځکـه چـې عيسـی عليـه السـلام زمـونږ او ستاسـو پـه مـنځ کـې اتفـاقي پيغمبـر دی او محمـد ﷺ اختلافي دی ځکه چې مونږ يې نه منو.

عـالم : محمـد ﷺ هـم اتفـاقي پيغمبـر دی خـو کـه تاسـو د خپـل کتـاب (انجيـل) متابعـت وکـړئ، افسـوس چې تاسو خپل کتاب هم نه منئ . اضواء البيان ج ۲ ص ۹۶

✓ کله چې د ډوډۍ قيمت د انسان له مزدورۍ لوړ وي، درې شيان ارزانه شي؛

د ښځې عزت، د نارينه غيرت او د انسان وينه.(علي کرم الله وجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ لــه امــام احمــد بــن حنبــل رحمــه الله څخــه پوښــتنه وشــوه، چــې صــيب زړونــه پــه څــه شــي نرمېږي؟

نو ويې فرمايل، چې:

د حلالو په خوړلو. حلية الاولياء: ۲/۱۸۲

- ✓ رسول الله ﷺ فرمائي:

کـه هـر څـوک دا خوښـه ګڼـي چـې پـه سـختيو او تکليفونـو کـې يـې دعـاء قبولـه سـی، نـو پـه هوسـائي اواستراحت کی دی زياتې دعاګاني وکړی.(سنن الترمذي)

❖ مـــــــــلغلـــــــــره:

*لمـونځ بايـد داسـي آداء کـړل سـي چـې ځـان پـرې خـلاص کـړو، نـه داسـي چـې ځـان تـرې خـلاص کړو!!!*

*إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهى عَنِ الْفَحْشاءِ وَ الْمُنْكَرِ*

❖ مـــــــــلغلـــــــــره :

*انسان بايد دومره ستر وي چې خپله غلطي ومني*

*اودومره زېرک اووسي چې له هرې غلطۍ نه سبق واخلي,*

*او دومره قوي اووسي چې هغه اصلاح کړي*

❖ ملغلرې:

*هغـه راز چـې ده دښـمن څخـه يـې پـټ سـاتئ ، دوسـت تـه يـې هـم مـه ښـکاره کـوئ ځکـه کېـدای سـي ، چې دا دوست مو يو وخت دښمن سي.*( لقـــمان حکـــيم صـــــاحـــــب

- ✓ که ژوند دوه ورځې شي يوه ورځ ادب زده کړه په بله ورځ په ادب ژوند وکړه نيوټن
- ✓ بده ژبه او سپک الفاظ کارول خپله ويونکي ته زيان او تاوان رسوي ژباړه
- ✓ نـړۍ يـې هـم منـي چـې د بشـر پـه تـاريخ کـې؛ تـر ټولـو بهترينـه انسـان؛ رسـول الله(ﷺ) دی. يـار محبت
- ✓ يو بل مه ازاروئ په خدای قسم پيښمانه به شئ
- ✓ د يوه ځوان په قبر ليکلي وه

څـه چـې زه وايـم، هغـه تاسـې نـه وايـاسـت او څـه ډول چـې زه فکـر کـوم، هغـه ډول تاسـې فکـر نکـوئ، څه ډول چې زه خپل کارونـه سـم پـر مـخ وړلـی شـم، تاسـې يـې نشـی وړلـی، نـو تاسـې، تاسـې ياسـت او زه، زه يم. پريږدئ، چې هر څوک خپله لار ووهي.

- ✓ انسانان د ځمکي يوازيني موجودات دی، چې باور لري، چې خدای شته!

همدارنګه يوازيني موجودات دی، چې کارونه يې ددې ګواهي ورکوي، چې خدای نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ بيکاره ده هغه کور چې د قرانکريم تلاوت پکې نه کيږي
- ✓ امام مجاهد دا دغه ايات (ولا تسرفو) په تفسير کې ليکلي

که يو څوک د الله په اطاعت کې د ابو قبيس په اندازه سره زر خيرات کړي اسراف کوونکی نده مګر د الله په نافرماني کې يو درهم خرچه کړي بيشکه له اسراف کوونکو څخه ده

- ✓ رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

[و من يعصي الأمير فقد عصاني]

ژباړه: څوک چې له خپل أمير څخه سرغړونه وکړي په تحقيق سره هغه له ما څخه سرغړونه وکړه. [متفق عليه]

❖ د کتاب په څير مه جوړيږه:

راغب الاصفهانی فرمايي د واعظ لپاره لازمه ده چې اول ځانته واعظ وکړي وروسته نورو ته لومړی خپله لار وګورئ وروسته نورو ته

لومړی ځان ته هدايت وکړئ وروسته نورو ته هدايت وکړئ نه داسي چې له ځانه کتاب جوړ کړي نور درڅخه ګټه واخلي خو ځانته هيڅ ګټه ونشي رسولی

له ځانه پول مه جوړوه چې نور درباندي واوړي خپله جهنم ته ولويږي

- ✓ ابن قطيبه دا دي ايات (ونبلوکم بالشر والخير فتنه) په تفسير کې فرمايي

موږ به تاسو په شر سره وازمويو تر څو ستاسو صبر معلوم کړو او تاسو به په خير سره وازمايو تر څو معلومه کړو تاسو څومره شکرګزار ياست.

- ✓ ابن حزم الاندلسي فرمايي :

نيکبخته انسان هغه ده چې ځان په فضايلو او اطاعاتو ښايسته کړي او ځان له بدو کارو لري وساتي

- ✓ امام احمد بن حنبل به ويل:

اې الله دا دي امت هغه خلک چې په حق باندې ندي دوی ګمان کوي چې په حقه دي دوی حق ته راوګرځوه تر څو له اهل حق څخه شي

- ✓ عمر بن عبدالعزيز فرمايي:

څوک چې په دنيا کې له چا سره د نرمي معامله وکړي الله تعالی به په قيامت کې د نرمي معامله ورسره وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ د حجاج ځيرکتيا:

حجاج بن يوسف يو ځل يو قلف شوی صندوق راوړ کوم چې ده ته له کسری څخه غنيمت شوی وه ده د قلف د ماتولو امر وکړ کله چې قلف مات کړ نو ويني چې په منځ کې بل صندوق ده حجاج وويل له م دا صندوق څوک اخلي؟

ملګرو يي بولی شروع کړه تر دي چې پنځه زره دينارو ته يي ورساوه کله چې حجاج دا خرڅ کړ نو ده وويل پرته له دې چې پدي کې د عجمو کوم حماقت وي بل څه نشته اخيستونکي ته يي وويل دا خلاص کړه وګوره څه پکې دي هغه دا ده په مخکې صندوق خلاص کړ په هغه کې يوه پرچه وه پرې ليکل شوي وه

که څوک غواړي خپله ږيره اوږده کړي نو هغه دي ښکته پريږدي

✓ امام سخاوي فرمايي:

تر ټولو زيات مبارک او بهتر, په دنيا او اخيرت کې تر ټولو ګټور عمل په رسول الله درود ويل دي

✓ ابن رجب فرمايي:

هغه استغفار چې په پوره توګه د بښني موجب ګرځي هغه دی چې ګنا ورسره مل نه وي الله تعالی د داسي خلکو صفات بيانوي او د بښني وعده کوي

✓ ځيني عارفين وايي:

زموږ استغفار هم زيات استغفار ته اړتيا لري

✓ زيد بن اسلم فرمايي:

کله چې يو مومن شخص ته مرګ راځي نو يو ملايکه راشي ورته ووايي له کوم څه سره چې مخ کيدونکی يي مه ويريږه په خپله دنيا او اهل مه غمجن کيږه او زه په جنت سره زيری درکوم نو دا شخص په داسي حال کې ومري چې د جنت زيری پرې شوی وي

✓ امام بغوي فرمايي :

تقدير غالب ده اوپايله پټه ده نو ځکه خو نه ښايي سړی په خپل ظاهر دوکه شي له همدي امله په دين د ټينګښت او ښې خاتمې لپاره دعا روا شوې ده

✓ حسن بصري فرمايي:

کله چې د قيامت په ورځ امتونه د رب العلمين مخته راشي نو دوی ته به اواز وکړی شي هغه څوک دي پورته شي چې په الله يي د اجر بدله پاتي ده نو پدي حالت کې به هيڅوک پورته نشي مګر هغه به پورته شي چې په دنيا کې عفوه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ مسکین :

ابن جوزي فرمايي په پوره معنا مسکين هغه څوک ده چې عمر يې پداسي علم کې ضايعه شي چې عمل يې نه وي وربانديږ نو دا کس به هيڅکله د دنيا خوند او د اخيرت خير ونه ويني دی به پداسي حال کې را وړانديږ شي چې ډير به ناتوانه وي سره له دې چې په ده به قوي حجت موجود وي.

❖ د رسول الله ﷺ د څلورو يارانو، څلور خبرې:

(1)حضرت ابوبکر الصديق (رض)

د هغه شخص سره ملګرتيا وکړه چې نيکي وکړي او هېره يې کړي.

(2)حضرت عمر الفاروق (رض)

مرګ په ياد ولره، خو د مرګ هيله مه کوه.

(3) حضرت عثمان (رض)

د آخرت اول منزل قبر ده، که چيرې هلته بريالی شوې؛ نورې مرحلې درته آسانه کيږي.

(4)حضرت علی (رض)

تل ربنتيا وايه څو د قسم خوړلو اړتيا پيښه نشي.

❖ *بهلول دانا رحمه الله يوه عجيبه قيصه!*

*يو سړي مسجد جوړ کړ بهلول دانا رحمه الله ترې وپوښتل: دا مسجد دې درب درضا لپاره جوړ کړی که نه دځان مشهورتيا لپاره؟*

*سړي وويل: طبعا دامي دخپل رب دراضي کولو لپاره جوړ کړی*

*بهلول غوښتل چې دسړي* *اخلاص أمتحان کړي*

*نيمه شپه راغلي او پر يوه ديوال يې وليکل دا مسجد بهلول جوړ کړی*

*پر سبا چې خلک جماعت ته راتلل پر ديوال به يې چې خط لوسته نو ويل به يې څه دخير انسان ده رب دې ورته اجرونه ورکړي يعني دعاوې به يې کولي ورته*

*هغه شخص په غوسه شو او ويی ويل بهلول دروا غ وايی داجماعت ما په خپل مال جوړ کړی او تاسي دعاوې بهلول ته کوی*

*بهلول وخندل او ويې ويل: ستا معامله دالله جل جلاله سره وه که دخلکو سره؟*

**که ښه ژوند کول غواړې:**

له دريوخبروتيرشه؛ خلکو ويل خلک وايي له خلکو مي واوريدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ لقمان حکیم وايي:
که له چا سره محبت نشي کولی نو نفرت هم مه ترې کوه

*د هر شي صدقه وي،* او د عقل صدقه دا ده  چې د جاهل خبره برداشت کړي..!!

❖ امام ابوحنیفه څخه چا پوښتنه وکړه که یو څوک په ویاله کې لمبیږي مخ یې باید قبلې ته وي که بل طرف؟ امام صاحب ورته وویل مخ یې باید د کالیو طرف ته وي چې څوک یې ونه تښتوي

❖ افغانان څنګه اصلاح کړو؟
امام سیوطي رحمه الله لیکلي دي: جراح بن عبدالله د مسلمانانو امیر عمر_بن_عبدالعزیز رحمه الله ته یو لیک واستوه:

«د مسلمانانو امیره! د خُرآسان خلک په خبره نه پوهیږي، یوازې په توره او دُره باندې اصلاح کیږي بس. که تاسو اجازه راکوئ، تورې ته به لاس کړم او  هغوی به لارې ته سم کړم.»

عمر بن عبدالعزیز ورته ولیکل:

«ستا خط مې ترلاسه کړ. دا چې د خُرآسان خلک یوازې په توره، دُره [او دیکتاتورۍ] اصلاح کیږي دروغ ده. عدالت او حق کولی شي دوی اصلاح کړي. ته د دوی ترمنځ عدالت عام کړه. والسلام.» [ تاريخ الخلفاء،

❖ خیانت:
یوه سړي د خیبر په غزوه کې  له بیت المال څخه غلا کړې وه. کله چې وفات شو، رسول «صلی الله علیه وسلم»  وویل:

د جنازې لمونځ پرې مه کوئ؛ ستاسو ملګري د الله تعالی په لاره کې خیانت کړی دی.

(الکبائر. الذهبي: لومړی ټوک، ۹۴مخ.)

❖ په دنیا کې له هر څه ګټه واخله، خو د کمزوري انسان له بې وسۍ څخه هیڅکله ګټه مه اخله.
❖ له علامه طباطبايي څخه یې وپوښتل: دا کوم علت دی، چې لمونځونه مسلمانان کوي او بارانونه په غرب او اروپا وریږي؟

علامه طباطبايي دې ایت ته په کتو وویل: [وَلَو اَنَّ اَهلَ القُری]هغه څه چې د باران د وریدلو لامل کیږي هغه د (خلکو د حقونو ورکول او ساتل دي.) نه د خدای د حقوقو پرځای کول.

دغه حقوق په غرب او اروپا کې ډیر ښه مراعت کیږي، خو په اسلامي هیوادونو کې دا کار کمزوری دی.

خدای پاک په خپله ویلي، زه له خپل حق څخه تیریږم، خو د بنده له حق څخه نه تیریږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ د ژوند شپږ اصول:

له عبادت کولو مخکې باور وکړئ.

له خبرو کولو مخکې غوږ ونیسئ.

له مصرف کولو مخکې تر لاسه کړئ.

له لیکلو مخکې فکر وکړئ.

له تسلیمېدو مخکې هڅه وکړئ.

له مړینې مخکې ژوند وکړئ.

❖ خدای پاک ملایکو ته شعور ورکړ، خو شهوت یې ورنکړ. حیواناتو ته یې شهوت ورکړ، خو شعور یې ورنکړ.

مګر انسان ته یې هم عقل ورکړ او هم شعور.

هغه انسان چې شعور یې پر شهوت غالب شي له ملایکو پورته دی.

او هغه انسان چې شهوت یې پر شعور غالب شي له حیواناتو بتردی.!

❖ انسان درې ډوله مري:

_ د روح مرګ

_ د وجدان مرګ

_ د جسم مرګ

د روح مرګ: یعنی د یو چا په لاس د یوه انسان غرور او وقار ماتیدیل.

د وجدان مرګ: یعنې له نورور انسانانو څخه د خپلو شخصي هدفونو لپاره ګټه اخیستل، بغیر له کومې پښیمانۍ څخه.

د جسم مرګ: د زړه او ساه درېدل.

تر ټولو دردناکه مرګ، د روح مرګ دی

تر ټولو ویرونکی مرګ، د وجدان مرګ دی

او تر ټولو آسانه مرګ د جسم مرګ دی

❖ هغه څوک چې هېڅکله یې غلطي نه ده کړې، نوه یوه شئ چې د یو نوي څه هڅه یې نه ده کړې.

❖ رسول الله ﷺ فرمایي:

هر چا چې فریب یا دوکه وکړه، هغه له مونږ څخه نه دی. مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا (رواه مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ رسول اللهﷺ وفرمايل:

داسې ستر عبادت در وښيم چې له روژې، لمانځه او زکاته يې درجه لوړه وي؟

اصحابو وويل: ولې نه،

حضرت محمد ﷺ وفرمايل: هغه د مسلمانانو ترمنځ روغه جوړه ده.

❖ غازيان به چې کله غزا ته روانېدل نو ابوالدرداء رضي الله عنه به ورته نصيحت کولو او ورته ويل به يې: ای خلکو! له غزا وړاندې نيک عمل پکار دی، ځکه چې تاسې يواځې د خپلو عملونو په تکيه جنګيږئ.

❖ ﴿فَاذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ﴾

اللهﷻفرمايي: ته ما ياد کړه زه به تاياد کړم،

❖ يو صحابی پوښتنه وکړه:

څه وکړم، چې دعاوي مې قبولې شي؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: حرام مه خوره.

❖ قرآنِ کريم کی بار بار ويل شوی دي:

لَا تَقۡنَطُوۡا۝

نا اميده کيږه مه

لَا تَهِنُوۡا۝

کمزورئ کيږه مه

لَا تَحۡزَنُوۡا۝

غمجن کيږه مه

لَا تَيۡاَسُوۡا۝

مايوسه کيږه مه!

❖ رسول الله ﷺ وفرمايل،

او دغه جمله يې دوه ځله تکرار کړه؛ الله تعالی تاسي ته د ښځو په اړه د خير توصيه کوی، ځکه چې ښځې ستاسي ميندې، لونې، او خاله ګاني دی. (السلسله الصحيحه ۲۸۷۱)

*له عبد الله بن عباس رض څخه روايت دی*

چې رسول ﷺ به د سختۍ په وخت کي (دغه کلمات) ويل:

- لا إله إلا الله العظيمُ الحليمُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لا إله إلا الله ربُّ العرشِ العظيمُ.

- لا إله إلا اللهُ ربُّ السماواتِ وربُّ الأرضِ وربُّ العرشِ الكريمُ. "

[رواه مسلم - )

❖ مــــــــــــرغلره:

*رسول الله ﷺ فرمائي:*

هر کله چي پټه خوله یاست، نو ساتلی یاست ،

خو کله چي خبرې پیل کړئ یا به ستا په ګټه لیکل کیږی او یا هم ستا په تاوان باندی. (صحیح الترغیب ۲۸۶۶)

- ❖ ژوند دا نه دی چي ځومره شتمن، ځومره مشهور، ځومره زړه راښکونکی یي. ژوند همدا دی چي ته ځومره اصیل، ځومره عاجز او ځومره مهربانه یې.
- ❖ الٰـــهـي ارشـــاد:

ــ هیڅ پیټي اخستونکی به د بل پیټی وانخلي

د انسان لپاره هیڅ نشته مګر هغه چی سعیه [کوښښ]یی کړی ده. (سورةالنجم

❖ انګیزه:

داسې شخصیت جوړ کړه چي :

الله دي لایک کړي ☝️، نه د الله بنده ...

❖ خدای ﷻ موسئ ته وفرمایل:

په هغه ژبه ځان ته دُعا وکړه، چي تر اوسه دي په هغه ګناه نه وي کړې.

موسئ ع وپوښتل: هغه څنګه؟

خدای ﷻ ورته وفرمایل:

نورو کسانو ته ووایه، چي تا ته دُعا وکړي، ځکه تا د هغوئ په ژبه ګناهونه نه دي کړي.

- ❖ مور ته هیڅکله د ناپوهی خطاب مه کوه، ځکه د مور غیږ ستا د ژدکړې لومړی مدرسه ده.!

- ❖ بنه ډیر تاوان وکړئ خو هیڅکله دوکه او فریب مه کوئ.
- ❖ خلک د ډاکټر په خبره حلال پرېږدي خو دالله (ج) په امر حرام نه پرېږدي
- ❖ چاچي درد پټول زده کړل، هغو په حقیقت کي ژوند کول زده کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓ حضرت یوسف علیه السلام یوې څاه ته وغورځول شو او زندان ته واچول شو ، هغه غلام شو ، له خپل پلار څخه لرې شو مګر:

هغه په څاه کې ونه ویل: خدایه ، ما ووژنه

هغه په غلامی کې ونه ویل: خدایه ، ما ووژنه

په زندان کې هغه ونه ویل: خدایه ، ما ووژنه

بلکه ، هغه د مصر د سلطنت په تخت کېناست ، د هغه روح د خدای سلطنت ته هیله درلوده او ویې ویل:

تَوَفَّنِی مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِی بِالصّٰلِحِینَ. [سورة یوسف:۱۰۱]

ژباړت:زما خاتمه پر اسلام باندې وګرځوه او په پای کښې ما له صالحانو سره یو ځای کړه."

❖ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله:

هرڅه زکات لري چې باید تادیه شي ، او د انسان په وجود کې زکات دا دی چې ډیری ښې کړنې وکړي ، بد کارونه پریږدي ، او خلکو سره ښه وکړي.

❖ د دې جملې پرځای "دا زما سره ولې پیښیږي؟" پر ځای یې دا جمله: "دا ماته څه درس راکوي ؟!" اوس بدل کړئ او وګورئ چې څنګه ستاسو ژوند په معجزه توګه بدلون پیل کوي.

❖ په نړۍ کې دوه شیان شتون لري چې غلي پاتې کیږي!

. د بې وزله خلکو مړینه

. د بډایانو نیمګړتیاوې

❖ امام ابن قیم رحمه الله فرمایي:

په سړک ، کور ، ښار کې ، سفر کې او په بیلابیلو ځایونو کې د تلاوت دوام به د قیامت په ورځ د انساني شاهدانو شمیر ډیر کړي.

ځکه چې هر ځای او کور او هر غره او ځمکه به د قیامت په ورځ د ذاکر شخص ګټې لپاره شاهدي ورکوي.

❖ تاسو له حقیقت سره مینه نشئ کولی ، مګر تاسو نشئ کولی دا رد کړئ!

❖ د ګناهونو ریښه درې شیان دي:

تکبر:

دا د شیطان د دې برخلیک لامل شو.

حرص ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادم علیه السلام د جنت څخه د ایستلو لامل شو.

حسد ...

او د ادم یو زوی د خپل ورور د وژلو جرئت وکړ.

له همدې امله ، هرڅوک چې له دې دریو شیانو څخه خوندي وي د ټولو بدیو او آفاتو څخه به خوندي وي. ولې هرڅه له لالچ څخه راځي ، او ګناهونه له لالچ او اسراف څخه راځي.

زنا ، فحاشي او ظلم هم له حسد څخه راځي.

❖ ژوند کول د جوړولو معنی لري

د غلطیو کولو څخه مه ویریږئ.

دا یوازینی لار ده چې تاسو کولی شئ ژوند زده کړئ ... !!

❖ هرڅوک غواړي الماس شي ،

مګر یو هم تراشلو ته تیار نه دي.

راځئ چې په یاد ولرو چې پرمختګ او غوره والی د درد/تکلیف په تېرولو راځي.

❖ یحیی بن معاذ فرمايي:

زه حیران یم هغو ته چې د مال په نقصان غم کوي مګر د خپل عمر په نقصان هیڅ نه غمیږي

امام شافعي فرمايي

که چیرې علما نه وی نو خامخا به ذندیقان د خطابت په ممبر دریدلي وای

له سفیان ثوري څخه د الله تعالی دا دي قول په اړه وپوښتل شوه(خلق الانسان ضعیف) انسان ضعیف پیدا شوی

د انسان ضعف څه شی ده؟

ده ورته وویل کله کې ښځه د سړي تر څنګ تیریږي نو دی په خپل نفس دومره واک نلري تر څو خپل نظر کابو کړي سره له دې چې هیڅ ګټه ورته نه کوي نو ایا له دې ضعیف بل شته؟

❖ ربیع بن أنس وايي: "چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو زیات مصرف به د جمعې په ورځ په عطرو کیده".

❖ دوینو باران:

امام ذهبي پخپل کتاب تاریخ الإسلام کې لیکي: په کال ٥٤٥ هجري کې په یمن باندې د سرو وینو داسې باران ووریده، چې ځمکه یې ټوله تکه سره کړه او د خلکو په کالیو کې یې اثرات هم پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[تاریخ الاسلام الذهبي: ۲۶/۲۸]

❖ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي:

"د قران کريم ساتنه د هغه يادول او د هغه د ليکونو او حروفو خونديکول نه دي؛ بلکې د قرآن کريم ساتنه د هغه د پولو "حدودو" جاري کول دي.

❖ اې تاته وايم:

هغه خلک چې ساړه يې يوازې له کړکيو ليدلي وي او غربت يې يوازې په کتابو کې لوستی وي هيڅکله د مسکينانو حال نشي درک کولی.

❖ نصيحت:

کله چې کبرجن ووينې؛ نو پوه شه، چې لمونځ نه کوي؛ ځکه کله هم په يو کس کې زياتې سجدې او کبر نشي يو ځای کيدای.

❖ خواته مو داسې شيان شتون لري، چې تاسو خفه او سخت انديښمن کوي؛ خو تاسو يې هيڅ د بدلولو وړتيا نلرئ او ناچاره ياست؟

ځواب لنډ دی! تاسو اړ نه يې چې د دغه شيانو په هکله فکرمند، بوخت او کړاو ګاللي شئ؛ بلکې تاسو داسې اختيار او تسليمۍ ته اړتيا لرئ، چې يوازې ووايئ: لا حَوْل ولا قُوّة إلّا بالله.

او ځان په دې کلک وپوهوئ، چې دا ستونزې او مشکلات يوازې د خدای جل جلاله په قدرت کې دي او د خدای قدرت او ځواک ته دا شيان هيڅ نه دي. او په امن کې شئ!

❖ امام مجاهد رحمه الله وايي؛ ماته مې خپل ګران استاد امام شعبي رحمه الله د هغه خره په هکله حديث بيان کړ، چې وروسته له مرګ څخه هم ژوندی وو؛ البته کله چې ما دغه حديث نورو خلکو ته بيان کړ؛ نو د ناستو خلکو څخه يې ځينې د دغه حديث د تحقيق لپاره امام شعبي ته ورغلل او د ياد حديث اړوند يې ور څخه پوښتنه وکړه؛ نو امام شعبي ورته .ويل: ما هيڅکله هم دغه حديث نه دی ويلی، بيا دغه ډله خلک بيرته ماته راغلل او د امام شعبي قول يې ماته را نقل کړ، له هغې وروسته بيا زه پخپله له دوی سره امام شعبي ته ورغللم او تري ومې پوښتل، استاده! ايا دا حديث دې ماته اونه وايه؟ نو هغه راته وويل: زه تاته د حکماؤ حديث وايم او ته لاړ شې هغه بې عقلو ته ور بيانوې.
❖ په خپلې خوښې دوزخ ته تګ هم له هغه جنت ښه دی چې په زور دې بيايي، ځکه هغه جنت چې په زور ور وستل شوی يې له دوزخ هم بد او بيکاره دی. خوښه او آزادي تر هر څه غوره دي حتا که دوزخ وي.
❖ ژوند زندان نه دی، ژوند سزا نه ده او نه ته بندي يې.

ژوند تحفه او نعمت دی، او هغو خلکو ته ورکړل شوی چې وړتيا يې لري. دا ستا حق دی چې له ژوند خوند واخلې، که دې وانه خيست نو ګناه دې کړې. څه ډول چې نړۍ ته راغلی وې که هماغسې لاړې او ژوند دې ځانته آرام او ښايسته نکړې نو ژوند دې نه دې کړی؛ بلکې د ژوند خلاف کار دې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې له دې چې ژوند له لاسه ورکړې، لږ یې خوښ، ښایسته او په زړه پورې کړه.

- ❖ الله تعالی په عبادت رسول الله په اطاعت او خلک په خدمت له ځانه راضي او خوشحاله کړئ

❖ انګیزه:

له مرګ وروسته دیو انسان ارمان چې قران پاک کي ذکر شوی دی.

(يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا)

ژباړه: کاش کې ! د رسولﷺ پر لاره تللی وای

- ❖ له یوه عالم څخه پوښتنه وشوه، چې ژوند په "جبر" دی او که په"اختیار"؟

عالم وویل: نن په اختیار دی خو سبا په جبر دی. مونږ نن ورځ د سبا ورځې مسوول یو. که نن کار ونکړو، هڅه ونکړو او هدف ونه لرو سبا ژوند پر مونږ جبر دی.

- ❖ حامد اللفاف رحمه الله تعالي چي یو بزرګ دی دی وایي*

الله پاک چي دچا دهلاکت اراده وکړي نو په دریو شیانو عذاب ورکوي

*« اول »* اول و دغه کس ته علم ورکړي مګر دعلماوو دعمله یي را بند کړي « یعني عمل یي دعالم نوي »

*« دوهم »* ودغه کس ته الله پاک دنیکانو بندګانو صحبت او ملګري ور نصیب کړي ؛ مګر دی دنیکانو حقوق نه پیژني

*« دریم »* د عبادت دروازه پر راخلاصه وي یعني عبادتونه ډیر کوي مګر اخلاص او ښه نیت نلري ؛ یعني عبادت کوي او ریا کوي ؛ نیت یي خراب وي

❖ د ژوند سرچپه کارونه:

یو بزرګ ته چا له خپل تقدیر څخه شکایت وکړ، چې یو کار یې هم سره نه نیسي او هر کار ته چې لاس ور اچوي، نو پرې سرچپه کېږي، بزرګ له نوموړي پوښتنه وکړه، چې زوی جانه! کله دې مهر (ټاپه) لیدلې ده؟

هغه وویل: ــــــــــــــــ هو صیب مهر خو مې لیدلی دی، بزرګ وویل: ښه په دې هم پوهېږې، چې په مهر څنګه لیکل شوي وي؟

ځوان وویل: په مهر لیکل سرچپه شوي وي، بزرګ ترې بیا پوښتنه وکړه، چې د مهر دغه لیکل څنګه سیده کېږي؟

ځوان ځواب ورکړ، چې کله مهر په کاغذ ولګېږي، نو الفاظ یې سیده کېږي، بزرګ سمدستي ور غبرګه کړه، چې څنګه د مهر الفاظ په کاغذ باندې په لګېدو سره سیده کېږي، نو همداسې ستا د ژوند ټول سرچپه کارونه هم په ځمکه باندې د تندي په لګېدو سره سیده کېږي. ان شاء الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ ښکنځل مکوئ:

یو چا خالد ابن ولید (رض) ته وویل: فلانکي تاته ښکنځل وکړل، هغه ورته وویل: خپله عملنامه چې په هر څه ډکوي، خوښه یې ده.

یو چا وهب بن منبه (رح) ته وویل: فلانکي تاته ښکنځل وکړل، هغه ویل:

شیطان تر تا غوره قاصد پیدا نه کړ؟؟

یوه عالم ته چا وویل: فلانکي تاته ښکنځل وکړل!

عالم وویل: زه هغه سړي په غشي وویشتم خو غشي ماته راونه رسید، تا ولې غشی را اخیستی او ما پرې خوږوی؟

حضرت إمام شافعی (رح) ته یو چا وویل: فلانکي بد او رد درته ویل.

إمام شافعي (رح) ورته وویل: که ته رښتیا وایې نو چغل خور یې او که درواغ وایې نو فاسق یې.

❖ پر درو نفرو باندي الله پاک ډیر رحمت کوي:

ژباړه: د ابوسعید خدري رضي الله تعالي عنه څخه روایت دی، چې رسول اکرم صلي الله علیه وسلم و فرمایل: الله پاک ودرو نفرو ته خاندي - هغه چاته چې د لمانځه لپاره په صف کې دریږي – هغه چاته چې د شپې په مینځ کې لمونځ کوي، – د هغه چا لپاره چې جنګ (جهاد) کوي، او زه ګمان کوم چې ویل یې د صف شاته.

❖ امام ندوي رحمه الله فرمايي:

زه غواړم په روښانه توګه خبرې وکړم. لعنت په داسې ژوند کې چې صداقت او حقیقت هیڅ معنی نلري.

نن ورځ ، هرڅوک د خپلې ګټې په اړه فکر کوي او دوي د ریښتیا یا دروغ ویلو څخه ویره نلري. نړیَ به هیڅکله د داسي خلکو سره اصلاح نشي. د دوي د ژوند قیمت به پای ته ورسیږي.

- ❖ له منفي افکارو ځان وساتئ ، حتی د دوې ترټولو له کوچنیو هم. ځکه کوچني سوري کولی شي ترټولو لویه کېښتی ډوبه کړي ...!
- ❖ چې الله ج وي، نو د هرې معجزې امکان شته، چې ستاسي ژوند جوړ کړي.
- ❖ له ابو هریرة (رضي الله عنه) څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک دی چي له ما څخه دغه څو کلمات قبول کړي او بیا په هغه سره عمل وکړي او هغه چاته یې وښایي چې، په هغه سره عمل کوي؛ نو ما ورته وویل چې، زه تیار یم؛ پیغمبر علیه السلام زه له لاس څخه ونیولم او بیا یې پنځه کلمات راته وشمېرل او ویې فرمایل:*

*۱- د محارمو څخه ځان وساته، تر ټولو خلکو به ښه عبادت کونکی سې.*

*۲- او په هغه څه راضي سه چې، الله تعالی تاته درکړي دي؛ نو تر ټولو خلکو به ښه غني سې.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*۳- او دخپل همسایه (ګاونډي) سره احسان کوه مؤمن به سې.*

*۴- او دخلګو لپاره هغه څه خوښ کړه، کوم چې دځان لپاره يې خوښوې مسلمان به سې.*

*۵- او خندا مه ډېروه، بې شکه ډېره خندا زړه وژني.*

*(رواه أحمد والترمذي)*

- ❖ د الله ﷻ عادت داسې روان دی چې سختي کله اوج ته ورسيږي له هغه وروسته ستره بريا راځي. روح المعاني
- ❖ حضرت علی )رض( فرمايلی دي چی ژوند فقط دوې ورځی دی . يوه ورځ ستا په ګټه او بله يې ستا په زيان ده نو په هغه ورځ چی ستا په ګټه ده » غرور « مه کوه او په هغه ورځ چی ستا په زيان ده » صبر « کوه .

❖ انګيزه:

په ټولي نړۍ کې!

څوک چاته دومره انتظار نه کوي! څومره چې اللهﷻ خپل بنده ته د توبې کولو أنتظار کوي

استَغفر الله الذِي لا اله الا هُو الحَي القَيوم واتُوب اليه!

❖ انګيزه:

د دښمن خبرو ته دقيق غوږ ونيسه داسې حقايق به واورې چې هيڅکله دوستانو نه دي درته ويلي.

❖ د حجاب ګټه:

د حجاب په ګټه دوه ډوله خلک پوهيږي:

هغه نارينه چې غيرت لري

او هغه زنانه چې عزت لري!

❖ امام حسن بصري رحمه الله عليه وايي:

هرڅومره چې له احمق ښځه ليرې کيږې، هغومره الله تعالی ته نيږدې کيږې.

❖ پند:

په داسې زمانه کې ژوند کوو:

چې خلک په خپلې خواشينۍ دومره نه خواشيني کيږي.

لکه څومره چې دبل په خوشالۍ خواشيني کيږي.

❖ د حافظې د قوت له پاره نسخه!

«له درې شيانو سره حافظه زياتيږي: مسواک، روژه او د قرآن تلاوت.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ عبرت:

وايي؛ يو سوريايي سړي د خپل کور په انګړ کې يې يو قبر ويستلى و، هره پنجشنبه (جمعرات) به په کې پرېوته، او دا کلمات به يې ځان سره ويل (رَبِّ ارْجِعُوْنِۙ، لَعَلِّيٓ اَعْمَلُ صَالِحًا)

ربه! ما بېرته (دنيا ته) واپس کړه د دې لپاره چې نېک عمل وکړم.

وايي دې سړي به بېرته خپل ځان مخاطب کړ او ورته وبه يې ويل: ځه، پاڅه، دنيا ته مې بېرته واپس کړې، نېک عمل دې وکړه..

سپک به راپاڅېده، او په نېک عمل به يې شروع وکړه.

(الدنيا مزرعة الآخرة)  دنيا د اخرت لپاره کرونده ده.

❖ ژوند:

هغه کتاب دی!.

چې همدا اوس يې په ليکلو بوخت ياست....

داسې کتاب وليکئ چې سبا يې

له لوستلو خوند واخلي...!

❖ لور:

حضرت موسى عليه السلام له الله ج څخه وپوښتل، يا الله کله چې ته پر خپل بنده مهربانه شې نو څه ورته ډالۍ کوې؟

الله ج ورته وفرمايل، که يې واده کړی وي لور

حضرت موسى (ع) بيا ورته وويل، يا الله که ډېر مهربانه سې نو، الله ج بيا ورته وفرمايل،دوهمه لور هم ورته عطا کوم، حضرت موسى (ع) بيا ورته وفرمايل، يا الله ج که زښت ډېر مهربانه سې ، الله ج ورته وفرمايل، اې موسې زه دريمه لور هم ورته عطا کوم.

الله ج فرمايي، کله چې زه خپل بنده ته زوی عطا کوم

نو ورته وايم، ځه د خپل پلار بازو جوړ سه، او چې لور عطا کوم،  نو زما دي په خپله خدايي قسم وي چې زه د هغې د پلار بازو خپله جوړېږم.

❖ رسول الله ﷺ فرمائي:

الله تعالى ﷻ د څلورو کسانو سره بغض کوی؛

- په خرڅولو کی قسم اخستونکی،

- کبرجن فقير،

- زوړ زناکار،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالم مشر.

(السلسله الصحیحه ۳۶۳)

❖ خبره:

ډاکټر وویل..

د انسانانو لپاره ښه درمل مینه ده.

یو چا وپوښتل...!

که یې کار ونه کړ؟

ډاکټر وویل اندازه یې زیاته کړه...!

❖ اې انسانه:

له یخ څخه یې پوښتنه وکړه ولې دومره سوړ یې؟

یخ وویل: زه خو اول هم اوبه یم او اخر هم اوبه یم؛

نو ګرمي سره زما څه کار؟

خو ته اې انسانه

اول هم خاوره وې او اخر به هم خاوره یې؛

نو دومره غرور دې څه لپاره...؟!

❖ خبره:

د توضیحاتو سره خپل وخت مه ضایع کوئ، خلک یوازې هغه څه اوري چې اورېدل یې غواړي.

❖ تجربه:

*_که وخاندې نړۍ به در سره وخاندي ، که وژاړې یوازي به پاته شې.*

❖ خبره:

د یوه کلتور له منځه وړلو لپاره مهمه نده چې کتابونه وسوزوې بلکې داسې کار وکړه چې کتاب ونه لولي

❖ بې هدفه ژوند:

*ځیني کسان له خپل ژوند څخه لاس پهٔ سر اوپښېمانه دي، خو مرګ ته هم تیارنه دي،*

*داهغه کسان دي چې بې هدفه ژوند تېره وي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ پنځه عادتونه همدا اوس پرېږدئ:

د ټولو راضي ساتل

له تغیره ویره درلودل

په تیر مهال کې اوسېدل

ځانته په کمه سترګه کتل

له حده ډیر فکر کول

❖ په ژوند کې مې لویه تېروتنه دا وه :

فکر مې کاوه که په چا کار ونه لرم هغو به هم په ما کار ونه لري

خو داسي نده پوهیږې تر ټولو ډیر زیان هغه چا راورسولو چې هیڅ کار مې نه ورسره لرلو

❖ انګیزه:

کـه د یـوې ارایشـګاه د کـارکوونکی تنخـوا د ښـوونکي څخـه زیاتـه وي، دا پـه دې مانـا نـه ده چـې پـه درس کـې پیسـې نشـته! بلکـې دا پـه دې مانـا ده چـې خلـک د خپلـو پـوچ مغـزو پـه پرتلـه پـه خپلـه بدرنګه بڼه ډېر شرمیږي!!!

❖ د مارادونا د خپلې ژبې یوه خاطره!

واتیکـان تـه مـې سفر وکـړ، پـاپ کـور دیوالونـه مـې ولیـدل چـې لـه سـرو زرو جـوړ شـوي دي، پـاپ وویـل چـې لـه غریبـانو سـره مرسـته وکړه،ترڅـو غریبـي ختمـه شـئ ځـان سـره مـې وویـل چـې لعنتـي لاړ شه دیوالونه دې خرڅ کړه.

ټول له سرو زرو جوړ دي

❖ فکر:

ژوند ټول شکایت، ګیلې ، غم او خپګان هم ندی

زنده ګي یعني د مهربان خدای په دربار کې

د شکر ویستني په زرهاوو دلیلونه

❖ د ځان محاکمه:

هـر کلـه چـې ویـده کیـدی نـو لـومړی خپـل ځـان پـه خپلـه محاکمـه کـړه. چـې نـن ورځ دی کـوم کارونـه ښـه او کـوم بـد کـړی ،پـه بـدو لـه سـره بیـا فکـر وکـړه چـې داسـی نـه سبا بیـا هماغـه بـد کـار وکـړی او داخل دی قاضی محاکمه کړی

❖ ګل خبره:

خپل خواهشات او غوښتني کمې کړئ، تر څو أرآم او أزآد ژوند وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ د يوه عالم تحليل:

جوهـان ګيـټ دوه سـوه کالـه مخکـې ويلـي مـوږ تـول بـه ژر يـا وروسـته حتمـا اسـلام قبلـوو ځکـه دا حقيقي دين ده که ماته څوک مسلمان وو ايي نه خفه کيږم زه دا صحيح خبره منم

❖ ځان له شره خلاصول:

کـه هـر څـومره مقنـع دلايـل او غـاښ مـاتونکي ځـواب ولـرې احمـق پوهـولی نشـې او جاهـل قـانع کـولی نشي نو سلام ورته وکړه تړي ځه

❖ اخلاقي کنايه:

يـوه عـارف ويلـي غـرور وويـل امکـان نـه لـري تجربـي ويـل ګـوره خطرنـاک دی عقـل ويـل بـې ګټـي ده مګر زړه وويل مه ډاريږئ امتحان خو يې کړئ

❖ زنګ وهلی ذهن:

موږ انسانان يو غلطي کوو خو تر ټولو غلطه غلطي مو داده چې له خپلي غلطي خبر نه يو

تـر دي لا غټـه غلطـي مـو دا ده چـې پـه خپلـه غلطـي ټينـګ ولاړ يـو دا نـو د ذهـن زنـګ ده الله دي دا ډول خلک چې اکثريت دي اصلاح کړي

❖ غلط انتخاب:

کلـه چـې د مـوږ د فشـار احسـاس کـوو نـو د قرانکـريم د اوريـدو پـر ځـای موسـقي اورو څنګـه بـه فشـار کم شي

❖ درې ډوله عمل:

درې ډولـه اعمـال دي چـې د اجـر يـې څـه حـد نشـته ځکـه ډيـر سـتر دي او الله تعـالی بـه يـې خپلـه ورکوي، پوهيږئ هغه درې اعمال کوم دي؛ راځئ ويې لولو!

لومړی: خلکو ته عفوه او بخښنه کول:

اجـر يـې حـد نلـري، ځکـه دليـل يـې د الله تعـالی د کـلام دا قـول دی؛{ فَمَنْ عَفَـا وَأَصْـلَحَ فَـأَجْرُهُ عَلَـى اللَّهِ}.

ژباړه: چا چې عفوه او صلحه وکړه اجر يې پر الله تعالی دی.

دوهم:صـبر کـول: صـبر کولـو پاداشـت او اجـر نهايـت زيـات او بـې حسـابه دی، ځکـه الله تعـالی فرمايي:

(إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ}.

ژباړه: صبر کونکو مومنانو ته پراخه او بې حسابه اجر شته..

دريـم: روژه: چـې اجـر يـې لايتنـاهي دی ځکـه حـديث شـريف کـې راځـي چـې د آدم اولادې ټـول اعمال خپل دي خو يوازې روژه ده چې زما لره ده او اجر يې زه ورکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(كل عمل ابن آدم له إلا الصوم فإنه لي وأنا أجزي به)

او د اخرت په سخته ورځ به آواز كوونكى آواز وكړي چې چيرې دي هغه خلك چې اجر يې پر الله تعالى دى؟

نو صبر كونكي, روژه نيونكي او خلكو ته بخښنه كونكي به را مخته شي.

❖ محبت:

د ملګرو ملتونو د ودانۍ په دروازه يوه لوحه راځړول شوې چې د نړيوال شاعر سعدى شيرازي دا قطعه چې په انګليسي ژباړل شوې ليكلې ده:

(زه چې كله دخپل محبوب دروازي ته ورسيدم نو ماته يي وويل څوک يي ؟ ما ورته وويل زه يم

هغه بيا وويل د محبت په معنا نه يي پوهيدلى چې تا زما او د ځان تر منځ توپير وكړ

ما وويل چې يو كال پس راغلم ستا دروازه مي په عاجزي ټک ټک كړه ته وايي څوک يي زه وايم ګوره د ننه هم ته يي د باندې هم ته يي چيرته چې ګورم هلته ته يي

هغه وويل اوس د محبت په قدر او قيمت وپوهيدم دننه راځه

❖ دايمان ريښي:

شيخ الاسلام ابن تيميه نه كور درلوده نه مال نه منصب د بن اميه د جماعت تر څنګ يي ختينه كوټه درلوده په هغې كې اوسيده په يوه ګوله ډوډۍ كرى ورځ تيروله يوازې دوه جوړه جامې يې درلودې اكثره وخت به په جماعت كې ويده كيده

دى وايي زما جنت زما په سينه كې ده زما وژل زما لپاره شهادت بندي كول مي خلوت جلا وطني راته سياحت ده

دغه ټولې خبري د ايمان پر مټ كولې په زړه كې د ايمان د بوټي ريښې كلكى وي

❖ نيكمرغه ژوند:

امام احمد بن حنبل نيكمرغه ژوند درلوده سره له دي چې په خپل لاس ګنډل شوې او پيوند شوې جامې به يي اغوستلې درې ختيني كوټي يي درلودې چې په هغه كې استوګنه كوله د زيتون له تيلو سره به يي وچه ډوډۍ خوړله يو جوړ څپلې يي ولس كاله وكارولې اكثره وخت به روژه وه خو بيا هم دومره ميرنى وه چې په يوه حدوث پسې به يي نړۍ ګز وګام كوله.

❖ جنت او دوزخ:

يوې نړيوالي ورځپاڼي يو وخت راپور ور كړ چې د فرانسې لومړي وزير ځان وژنه وكړه لامل يي م دا ښودل شوى وه چې په ډيرو ورځپاڼو كې پرې نيوكې شوي وې چې ده يي د زغم تاب نه لرلو او څنګه به يي لرلى واى له دي خوار سره خو نه ايمان وه نه د زړه سكون نو ځكه يې ځان وواژه كه دى مومن واى شريعت ورسره واى نو شريعت به ورته لارښوونه كړې واى چې ترجمه (دا دوى په حركتو مه ځوريږه او ما دا دوى په دسيسو زړه تنګى كيږه الايه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ❖ هدف:
د چا نهايي هدف چې له الله پرته بل څه وي نو ګټه به يي پر تاوان خوښي به يي په غم او نيکمرغي به يي په بدمرغي اوړي

### ❖ ګل خبره:
مغروره ته واک، ناديده ته امکانات، ښځې ته صلاحيت او کشر ته اختيار مه ورکوئ.

### ❖ طلايي خبره :
د هغه شي د بدلولو هڅه مه کوئ چې لا تر اوسه چليږي اوکار کوي

### ❖ د مور خدمت:
حاجيان له کعبې طوافونه کوي، له خپل رب څخه د بخښنې دعاوې غواړي، لمر هم تېز او ګڼه ګوڼه هم زياته ده...

يوه يمنې خپله مور په شا کړې ده، ستړی ستومانه او خولې پرې ور ماتې دي، د ده عمر خوړلې مور له ناستې ولاړې وتلې ده او زوی يې پرې د کعبې طوافونه کوي. زوی يې د خپلې مور خدمت خپله دنده ګڼله او باد ويې هم ګڼي، ځکه دا همدغه مور وه چې خپل زوی يې نهه مياشتې په نس کې و ګرځاوه او بيا يې شاوخوا دري کاله په غيږه کې وپاله او د خپل زوی په روزلو کې يې ډيرې تنګسې، بې خوبۍ او نورې ګڼې ستونزې تېرې کړې.

ابن عمر رضی الله عنهما د کعبې تر څنګ ولاړ دی، دغه يمنې سړي پرې سلام وکړاو له سلام وروسته يې وار له واره وويل: ما خپله مور په شا کړې ده او د کعبې طواف پرې کوم، ايا په دغه کار سره ما د خپلې مور حق ادا کړ؟

ابن عمر رضی الله عنهما ورته وويل: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح او تن يې په لاس کې دی، تا په دغه کار سره د خپلې مور د هغو ساګانو د يوې حق هم نه دی ادا کړی چې ستا مور ستا د زېږون پر مهال ايستلې دي، ستا دغه ټوله ستړيا او سختي ستا د زېږون پر مهال ستا د مور د يوې اخيستل شوې سا سره برابره نه ده.

### ❖ وتعز من تشأ:
هغه کسان چې باور لري عزت او ذلت د خدای په لاس کې دی، که خدای و غواړي يو څوک له شخصيت خلاص کړي هيڅوک يې مخه نشي نيولای، تاسې بايد باور ولرئ چې عزت مو د لوی خدای په لاس کې دی او د دې نړی شيطانان ستاسې غرور ته صدمه نشي رسولی، صادق اوسئ، پياوړي اوسئ او پرېږدئ چې خلک څه وايي هغه دې ووايي.

### ❖ پام:
خپلې سلقې ته پام وکړئ، له ځان لاس مه اخلئ او کوشش وکړئ چې منظم او پاک و اوسېږئ، ستاسې د باطن پاکي هماغومره مهمه ده لکه د ظاهر چې مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ د فکر خبره:

نه بایلونکی نږئ ته راغلي یي نه وړونکی ته ټاکونکی راغلي یي ښه ټاکنه وکړه

❖ ګل خبره :

پلار مي ویل خلک په دوه ډوله دي ښوونکي او اخیستونکي

اخیستونکي ښه خوراک کوي مګر ښوونکي ښه خوب

❖ انګیزه :

لویدیځ ته لاړم اسلام وه مسلمان نه

ختیځ ته راغلم مسلمان وه اسلام نه

❖ قیمتي خبره:

تر هغه وخته واده مه کوه تر څو دي چې باور نه وي چې د واده ټولي اړتیاوې پوره کولی شم

❖ خبرداری:

که لس کاله له کسب او کار څخه بې برخي شي (د ناداری له امله) بیا هم علم مه پریږده که دي مخ تری واړاوه له ناداری سره به مل شي ځکه چې الله وایي چا که زما له ذکر څخه مخ واړاوه بیشکه تنګ ژوند به ولري

❖ د استغفار ګټې:

جنت ته د ننوتلو سبب ده

د ګناهونو بښلو ذریعه ده

د الله قهر او غضب بندوي

❖ حسن بصری وایي:

له الله تعالی څخه ښه دیره غواړئ ان په ناسته ملاسته او ولاړه ځکه تاسو نه پوهیږئ چې الله کله ښنه درته کوي.

❖ خپل عمل د لاري مل:

ته به ښه وظیفه او مقام لرې ښه کورنۍ او قوم به لري ښه نوم او نښان به لري ښه کور به لري ښه مال او دنیا به لري ,,,

ایا له دغو یو شی هم قبر ته درسره وړي بغیر له عمله

نو مه ناوخته کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ فکر:

واده کول او ژوند جوړول د بازار په څیر دي که پیسي,اړتیا او هوډ نه لرئ مه ور ځئ

❖ د دروغو بدبوي:

رسول الله فرمايي کله چي څوک دروغ ووايي د رحمت پرښتي يو ميل لري ور څخه ځي

❖ د خوښی په اړه:

د انشټاين يو يادښت ميليون ډالره پلورل شوی!

البرټ په دي يادابښت کي ليکلي: "ارام او ساده ژوند له هغي بريا څخه ډېر خوند لري چي له ډېري هڅي سره لاس ته راځي"

❖ خبر اوسه:

موږ ټول د کتابونو په څير يو

اکثريت يوازې زموږ پوښ ته په کتو اکتفا کوي

اقليت مو سريزه لولي

ځيني خلک بيا پر موږ شوي تنقيد ( نيوکو) باندې باور لري

او

يوازې دوه يا درې هغه کسان وي، چي زموږ له باطن سره آشنا دي....

❖ حکايت:

مولنا جلال الدين بلخي وايي: يوه سړي په لاره کي اغزي وکرل اغزي لوی شول لارويانو ته يي مشکل جوړ کړ د ښار امير ورته پيغام وليږه اغزي لري کړه خلک يي په ځور کړي سړي بيغمه ژوند کاوه د امير وروستی پيغام په دي ډول وه ته به کمزوری شوی يي او اغزي به له لري کولو وتلي وي ستا عمر د کمزوري مرحلي ته داخل شوی او ستا اغزي په اساني نه ورکيږي نو ښه داده چي له کمزوري وړاندې دغه وباسي

مولانا يي په تفسير کي وايي بد عمل او کړني هم داسي دي

❖ غوښتنه:

- *• د اوداسه وخت کي ځوان اوسه! په نشاط او بيداري سره اودس کوه.
- • د لمانځه پر مهال بوډا *اوسه! په توجه، عاجزي او ارام سره لمونځ کوه.
- • د دعا پر مهال ماشوم اوسه! په اصرار، ټينګار* *او ژړا له الله تعالی غواړه.

❖ دعا:

په سجده کي خبرې ځمکي ته کيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اورېدل کېږي په اسمانونو کې!

❖ راز:

"کله چې د چا سره اړیکه ختمه شي، نو د هغه د راز ساتل ستا دنده ده" راز ی باید افشا نکړې.

❖ ځیرکتیا:

د امام ابوحنیفه په وخت کې د یوې ښځې غبرګولي ماشومان پیدا شول چې شاګاني یې سره نښتي وي له پیدایښت سره متصل یو مړ شوه او بل ژوندی وه کوفي امامانو فتوه ورکړه چې ژوندی ماشوم دي هم ورسره خښ شي مګر امام صاحب ورته وویل نه داسې وکړئ چې دومره ځای ژور کړئ چې مړ ماشوم تر نښتي ځای پکې پټ شي او ژوندي ماشوم ته د خاورو په سر شیدي ور کړئ تر هغه وخته چې مړ ماشوم خاوري شي په لږ وخت کې ماشوم خاوري شو او دا بل ماشوم وژغورل شو بیا هغه ماشوم ته خلکو د امام صاحب ازاد شوی غلام ویل.

❖ عاجزي:

امام حسن وایي یوه ورځ حضرت عمر د جمعي خطبه لوستله ما یې د څادر پیوندونه شمارل چې تر دوولسو زیات پیوندونه ورته لګول شوي وه

❖ غیر مسلم عرب وایي:

یو مسکین سړی وه چې په مدینه کې به یې د ونې سیوري ته ارام کاوه له لوږې به کړیده مګر شپږ غتې امپراتوري یې راچپه کړې دا ستر شخصیت حضرت عمر فاروق وه .

❖ یو شاعر وایي:

کله چې د زماني مصیبتونو راګیر کړم د خلاصې لار مې ورکه کړه نو نیمه شپه راپاڅیدم رب ته په زاریو شوم د هغو له برکته مي هره ورځ روښانه او له خوښیو ډکه وي.

❖ یو بزرګ وایي:

ما دوه داسې شیان زده کړي چې د ژوند په ټولو ستونزو کې یې اساني رابښلې یو همت ده او بل د وخت پابندي ده.

❖ د یوي سکې دوه مخه:

مرګ یوازې یو ځل راځي نه یې مال مخه نیولی شي نه دولت,نه یې وسله مخه نیولی شي ,نه باډي ګارډان,نه یې ډاکټر مخه نیولی شي نه دوا ,نه مقام او نه یې قوم مخ نیولی شي دا ځکه چې ژوند خو د سکې یو مخ ده بل یې مرګ ده نو همداوس راپورته شه په کړو ګناهونو توبه وباسه الله ته پنا یوسه که هوس ده نور دي بس ده

❖ د بیغمي راز:

ایا غواړې چې د نورو له شره ځان وساتې ؟ ډېره اسانه او ارزانه طریقه ده نور له خپله شره وساته

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ د ژوند لنډيز:

زموږ ژوند د دريو اصلونو لنډيز ده :

لومړئ خنداوي چې محوه کيږي دوهم اوښکي چې اوچيږي دريم عملونه چې پاتي کيږي

❖ تقوا:

ابـو الجويريـه وايـي مـا لـه ابوحنيفـه سـره شـپږ مياشـتي وخـت تيـر ده پـه دغـه وخـت کـي ده د خـوب لپاره ډډه ونه لګوله ټوله شپه به په لمانځه ولاړ وه:

❖ حکايت:

اکبـر باچـا لـه بيربـل څخـه پوښـتنه وکـړه ايـا داسـي څـه شـته چـي زه يـي کـولی شـم او خـدای پـاک يـي نشي کولی؟ بيربل ورتـه وويـل هـو تـه کـولی شـي مـا لـه خپلـي بادشـاهي وشـړې خـو خداي پـاک مـي لـه خپلي بادشاهي نشي ايستلی ځکه هر چيرته يي حکم چليږي

❖ بي باوره ژوند:

حضـرت انـس(رض) څخـه روايـت ده چـي کلـه حضـرت نـوح(ع) تـه د مـرګ فرښـته راغلـه ورتـه يـي وويل په پيغمبرانو کي تر ټولو اوږد عمر تاسو ته درکړل شوی وه دنيا مو څنګه وموندله؟

حضـرت نـوح ورتـه فرمـايي لکـه يـو څـوک چـي داسـي ځـای تـه دننـه شـي چـي دوه دروازې لـري پـه يوه ننوزي لږ ځنډ وروسته له بلي راووځي

❖ ملغلره:

رسول الله ﷺ فرمائي:

د کونـډو او ايتيمـانو سـره مرسـته کـوونکی سـړی داسـی دی لکـه د الله تعـالی پـه لار کـی مجاهـد، او يـا لکه د شپې لمونځ کوونکی او دورځې روژه نيونکی. (صحيح البخاري ۵۳۵۳)

❖ حجاب :

کومي ښځې ته چې خپل عزت ګران وي....

هغي ته پرده او حجاب ډير آسانه وې.!

❖ چلند:

ځـوک چـي لـه حيوانـاتو سـره بـده رويـه کـوی، دا مـوږ تـه دا ښـايي، چـي ددې انسـان رويـه، لـه ظعيفـو، معلوله او غريبو خلکو سره هم همدا شان ده.

❖ دوستي:

دوستي هرڅوک کوې

ځيني يې پالي

او ځيني يې ازمائي...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ انګیزه:
د لویو انسانانو هنر دادې چې هېڅکله د لارې د سختیو په اړه فکر نکوې

بلکه دهغه څه بنکلا اوخوند په اړه فکر کوې چې ورروسته له مزل نه یې لاس ته راوړې

❖ د_قبر_اواز.!!
اې انسانه ته ماته راتلونکې یې

که نن وې که صبا زه دې په طعمه یم

زه ستا دې ښو اعمالو امیدونه لرم

ته به مې هیر کړې

خو زه دې نشم هېره ولی.!

❖ مسلماني_میرمني:
علامه ابن بادیس رحمه الله فرمایلی

کور لومړني مدرسه ده

او د نارینه و لپاره د روزنې دینداری او جوړښت لومړنی عامل وي؛

او د میندو دینداری، د دین او اخلاقو د ساتنې بنسټ دی". منبع: الآثار (۲۰۱/۴)

❖ رسول الله ﷺ فرمائي:
زه هغه چا ته په جنت کی د کور ضمانت ورکوم، چې جګړه پریږدی که څه هم دغه کس پر حق باندی وی. (صحیح ابوداود ۴۸۰۰)

❖ مرګ:
سلیمان بن عبدالملک له ابو حازم رحمه الله څخه پوښتنه وکړه، چې موږ ولې مرګ بد ګڼو؟

ابو حازم رحمه الله وفرمایل:

ځکه چې تاسو دنیا ښاپسته کړې او آخرت مو خراب کړی. المجالسة وجواهر العلم: ۲۷۱

❖ امام شافعي (رح) فرمایي:
ځوک چې د خاتمې ښه والی غواړي، په خلکو دې نېک ګمان کوي.

❖ إمامُ ابنُ القيّم وايي:
"دا خیال مه کوه چې ګواکې د خیر کار کولو ته خپل نفس راکش کړې.

بلکې ته یو داسې بنده یې چې الله سبحانه وتعالی درسره مینه وکړه.

نو د الله سبحانه وتعالی په محبت کې درنه کمی ونه شي چې هېر به دې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ د مرګ طلب مه کوئ:
له حضرت أنس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

یو دې هم له تاسي څخه د مرض د رسېدو ( او یا بل کوم مشکل په سبب د ) مرګ طلب نه کوي که چېرې حتماً دا کار کوي نو داسي دې ووائي چې : ای الله ج !! که چېرې ژوند زما لپاره بهتر وي ژوندی مې ولره ، او که مرګ زما په مورد کې بهتر وي نو وفات مې کړه (( متفق علیه ))

❖ بېله بلني د هیچا میلمستیا ته مه ځئ:
ژباړه: عبدالله ابن عمر فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا ته چې د میلمستیا بلنه ورکړل سي خو دی یې قبوله نکړي نو یقینا ده د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه او څوک چې بېله بلني ولاړ سي نو دی پداسي حال کي ورغی چې غل دی او پداسي حال ووتی چې غاصب دی.

یعني کوم مسلمان چې سړي ته د میلمستیا دعوت ورکړي دعوت یې باید ومنل سي او د هیچا میلمستیا ته دي انسان بېله دعوته او بلني نه ځي، څوک چې بېله بلني ولاړ سي هغه چې کور ته داخلېږي داسي وي لکه د غلا لپاره چې ورځي او د ډوډۍ خوړلو وروسته چې وځي داسي مثال لري لکه بېله اجازې او په زوره یې چې د مسلمان څخه ډوډۍ خوړلې وي چې په دواړو صورتونو کي دی ګناهکار بلل کیږي.

نو که غواړی غله او غاصبان ونه شمېرل سی بېله بلني د هیچا کور ته مځئ او د کوربه بېله اجازې د چا سره طفیلي هم مځئ او مه هم بل څوک د ځانه بیایست!.

❖ قال الله تعالی:
(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ) [التوبة: ١١٩]

ژباړه: اې مومنانو! له الله تعالی څخه و وېرېږئ، او له رېښتنو خلګو سره اوسېږئ.

❖ هڅونه:
سیندونه په شا نه ځي ، لکه د سیند غوندې واوسئ تېر هېر کړئ او راتلونکي ته وګورئ .

❖ نومورکی غني:
سعد بن ابي وقاص (رض) خپله ښځه بچې ګډې او وزې له ځان سره واخیستل او له ښاره ووتلو یوه دښته کې استوګن شو یعني له دنیوي ستونزو او اندیښنو څخه یې کډه وکړه بله ورځ یې له ښاره یو زوی ورغي او ورته یې وویل پلاره ته دلته ناست یې او هلته د شتمنیو په ویش خلک سره نیښتي دي نو سعد ورته وویلي زه ستا له شره الله ته پناه ور وړم او ما له رسول الله اوریدلي چې الله داسي کس خوښوي چې نوم ورکی غني او پرهیز ګار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ عدالت:

اسلام یواځي دا لمونځ کول ندي بلکې د خلکو حقونو په چارو کې میانه روي د خلکو سره ښه چلند کولو کې دی حتا که کافر او مسلمان ترمنځ شخړه هم اوسي باید دواړو ته په یو نظر وکتل شي

او فیصله باید صحي او سمه وشي ولو که د کافر په ګټه هم وي

❖ ملغلري:

له چا سره چې دې محبت وي،

تر ممکنه حد یې په نیمګړتیاوو سترګې پټوئ،

ځکه چې پوره یوازې اللهﷻ دی...!

❖ قال الله تعالی

فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا

له هرې سختې وروسته آسانی ده....□

❖ هڅونه

که غواړئ چې ژوند مو ښکلی شي

د ځینو درد ته سکون

اوښکو ته دسمال

او زخم ته ملهم شئ .

❖ حکایت:

باچا یو بزرګ سړی زنداني کړ د شپې یې خوب ولیده چې هغه بې ګنا ده نو سم د لاسه یې ازاد کړ او ورته یې وویل هر څه چې غواړې وغواړه؟

بزرګ ورته وویلې کله چې دا رب ولرم چې په نیمه شپه تا ویښ کړي تر څو ما ازاد کړې نو دا به لویه نامردي وي چې له بل چا حاجت وغواړم.

❖ چاپلوسي کول!

*چاپلوسي چې په عربې کې ورته (التملق) وایي* ، چاپلوسي د حد نه زیاته نرمي ، لطف ، یو چا ته بې حده عاجزي او خضوع کولو ته وایي ، یعنې د یو چا په صفت کولو ، احترام کولو ، نرمي کولو کې افراط ته چاپلوسي وایي، چې په شریعت کې ورنه منع راغلې ده.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

*ليس من خُلق المؤمن التملقُ.*

چاپلوسي کول د مؤمن له اخلاقو نه ده.

❖ ژمی:

کله چې به ژمی راغئ، نو مشهور تابعي حضرت عبيد بن عُمير رحمه الله به وفرمايل:

ای اهل القرآن! (علماوو او حافظانو!) د لمانځه (تهجدو) لپاره درته شپې اوږدې شوې او د روژې لپاره درته ورځې لنډې شوې. نو پس دا ژمی يو غنيمت او فرصت وګڼئ. [ ابن أبي شيبة في المصنف ۹۸۳٦

❖ ګناه:

کله چې يوڅوک پرګناه باندې ووينئ نو هغه ته ښيرا او بد رد ورته مه واياست

بلکې الله ته دعاء وکړئ چې ياد کس ته مغفرت وکړي. (التوبة لابن أبي الدنيا)

❖ فضيل بن عياض -رحمة الله- وايي:

«که يو عمل د خلکو له پاره پرېږدو؛ دا ريا ده او که يې د خلکو له پاره ترسره کړو؛ دا شرک شو، اخلاص دا دی چې له دواړو دې الله وساتي.» (بستان العارفين: ۴۷)

❖ ستا نه زيات مهربانه ده:

د ژوند وروستۍ شپې يې وې، مرګ ته يې څه نه وو پاتې، مور يې ورته کتل او د اوښکو مرغلرې يې له سترګو بهولې.

ځوان زوی يې - چې په سرطان اخته و - مور ته مخ ور واړوه:

- مورې، که زما د اعمالو محاسبه ستا په لاس کې وای؛ څه دې راسره کول؟

- رحم مې درباندې کاوه او ښنلی به مې وې

-ښه، بيا خو تشويش مه کوه، زه داسې ذات ته ور روان يم، چې له تا نه هم مهربان دی.

❖ عزت:

د هر سړي عزت په خپل لاس کې ده نو که هر سړی خپل خواهشات او ضروريات کابو کړي نو هميشه به ارام خوشحاله او عزتمن وي.

❖ له مرګ ويره:

له مرګ نه ويرېږم که څوک راته وايي نن مري نو زه به ووايم د خدای رضا مې قبوله ده خو خدای دي نکړي چې څوک راته ووايي ستا له لاسه د يو چا ژوند تريخ ده.

❖ د حقيقت اظهار:

که زه د حقيقت په اظهار کې زيان ووينم پروا نشته خو چې حقيقت زما په چوپوالي کې زيان ونه ويني

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ الهي غبرګون:

شيخ سعدی(رح) وايي ما په ژوند کې له ډير تلاش سره بيا هم دوه شيان پيدا نکړل يو هغه چې د الله په نوم يي صدقه ورکړي وي خو غريب شوی وي بل هغه چې ظلم يي کړی وي مګر د الله له نيولو څخه خلاص شوی وي.

❖ د دنيا مثال:

دنيا يو پل غوندي ده هيڅ هوښيار سړی په هغه کور نه جوړوي خو مورږ لګيا يو له پاسه پرې جنت جوړوو

❖ د خلکو انحراف:

د فتنو په دي نړۍ کې به کله يوازې يي؟

که دي تريخ حقيقت ووايه ,که صادق وي ,که دي غيبت منع کاوه که دوه مخی نه وي که دي دروغ نه ويل که دي د فاسق صفت نه کاوه نو پوه شه چې بې وسه او بې کسه يي

❖ اعتدال برى ده:

مولانا جلال الدين بلخي څخه يي وپوښتل زهر څه ته وايي؟ هغه وويل هر هغه شی چې زمورږ تر اړتيا اضافه شي زهر دي هغه که خواړه وي يا قدرت يا مال او دولت يا لوږه يا حرص يا مينه او نفرت.

❖ انسانان:

انسانان په دوه ډوله دي يو په تياره کې وينې بل په رڼا کې ويده.

❖ کلخبره:

که په ژوند کې هر څه کيږي

مهرباني د غوصي مينه د کرکي او ښېنه د غچ په ځای وټاکۍ

❖ د زړه سوځيدل:

په خراسان کې له يوه نيک سړي نه څو اشرافی چا پټي کړې هغه په ژړا لاس پوري کړ فضيل بن عياض ورته وويل ولي ژاړې؟ژاړم په دي چې د قيامت په ورځ به الله تعالی ما او دغه غل سره يو ځای کړي نو په هغه مي زړه دردېږي

❖ اثر:

که په چا نصيحت اثر نه کوي پوه دي شي چې زړه يي له ايمانه خالي دي

❖ رسول الله ﷺ فرمايي:

شيطان الله جل جلاله ته وايي:

ستا په بزرګی مي قسم،

چې تر څو دې د بنده په تن کې روح وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به يې بې لارې کومه!

الله تعالیﷻ يې په ځواب فرمايي:

پرخپل عزت او لويي مې قسم،

چې تر څو مې بنده ګان له ما د بخښنې غوښتنه کوي،

زه به يې بخښمه!!!

❖ عمر ثاني:

چې کله د أميرالمؤمنين عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د رحلت خبر رومي پاچا ته واورول سو نو د هغه په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې او وئې ويل: "نن هغه انسان مړ شو چې په عدل کې ئې بل مثال نشو موندلی."

قيمتي خبره:

د هيچا غيبت مکوه! ښايي له ګناه يې خبر يې خو له توبې يې خبر نه يې.

❖ اول ځان بيا جهان:

: له انس بن مالک څخه: چې رسول الله ﷺ وويل: د معراج په شپه په يوه داسې قوم را تېرېدلم چې شونډان به يې دأور په غچي/قيچي سره پرې کېدل

ما وويل:داڅوک دي؟

دوئ وويل: چې داستا دأُمت هغه خطيبان / واعضان دي چې دنيا کې به يې نور خلک په نيکی امرکول،خو خپل نفسونه به يې هېرول .مسند امام احمد

❖ غوره انسان څوک دی؟

له عيسی عليه السلام څخه پوښتنه وشوه ويل:

"په انسانانو کي څوک غوره دی؟

عيسی عليه السلام دوه موټه خاوره را واخيستلي او ويي ويل: له دې(خاورو) څخه کومه يوه بهتره ده؟

وروسته يي خاوره سره ګډه کړل بيا يي سره بېله کړل او ويي ويل:

انسانان ټول له خاورو څخه دي او عزتمند له دوی څخه د الله په نزد تقواداره د دوی دی."

❖ رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:

د خلکو څخه ډېر غوره هغه څوک دي چې اوږد ژوند ولري او نېک عمل کوي.

(صحيح الجامع ۳۲۹۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:
د الله ﷻ پـه نـزد غـوره ملګـرى هغـه دى چـې د خپلـو ملګـرو لپـاره غـوره وي او د الله ﷻ پـه نـزد غوره ګاونډي هغه دى چې د خپل ګاونډي لپاره غوره وي. (الأدب المفرد ٨۴)

❖ بهتر څوک دي؟
لـه حضـرت ابـو سـعيد خُـدري رضـي الله تعـالی عنـه څخـه روايـت دى چـې د نبـي اکـرم ﷺ څخـه پوښـتنه وشـوه چـې پـه بنـده ګـانو کـې تـر ټولـو بهتـر څـوک دى او د قيامـت پـه ورځ د الله رب العـزت په نزد څوک تر ټولو د زياتې درجې خاوند دى؟

نبي کريم ﷺ وويل: چې ډېر ذکر کوونکي نارينه او ډېرې ذکر کوونکې ښځې.

❖ تر سخت تعقيب لاندي يو:
کلـه چـې د ګنـاه ارتکـاب کـوي نـو درې خبـري حتمـا يـاد ولـره الله دي وينـي ,ملايکـي يـي ليکـي او مړينه دي څاري نو تر څومر سخت تعقيب لاندي يو خو بيا هم؟

❖ له بهتانه ډډه:
وايـي يـوه سړي ملهـب بـن ابـي تـه بـد رد وويـل خـو ده يـي پـه مقابـل کـې هـيڅ ونـه ويـل يـو چـا ورتـه وويلي ولې دي جواب ور نکړ؟

ملهـب وويـل دا ده بـدي او عيبونـه را معلـوم نـدي او دا هـم نـه خوښـوم چـې د هغـه څـه پـه هکلـه بهتـان پرې ووايم چې په ده کې نشته

❖ حساب وکړه:
له دې مخکې چې حساب در سره وشي ، د ځان سره خپله حساب وکړه .

❖ حقيقي ملګرى:
پـه زهـر الريـاض کـې راغلـي چـې موسـى عليـه السـلام يـو خـوږ ملګـرى درلـود، يـو ورځ يـې ملګـرې تـرې غوښـتنه وکـړه چـې لـه خـداى تعـالى نـه وغـواړه چـې خپـل ځـان راتـه پـه حقـه توګـه وپيژنـي. نـو موسـى عليـه السـلام لـه خـداى ج تـه دا غوښـتنه مطـرح کـړه، خـداى ج هـم قبولـه کـړه او ورتـه يـې وويـل چـې دواړه يـو د وحشـي حيوانـاتو غـره تـه لاړ شـئ. کلـه چـې غـره تـه ورسـيدل موسـى عليـه السلام تـرې پنـاه کـړى شـو. د موسـى ع ملګري وويـل: اى خدايـه! مـا خپـل ملګـرى ورک کـړ. خـداى ج موسى ع ته وويل: که څوک غواړي ما وپيژني، نو مخلوق خپل حقيقي ملګرى نه بولي.

❖ دا په ياد ولرئ!
ونې د منې په موسم کې خپلې ټولې پاڼې له لاسه ورکوي:

تر څو د پسرلي په موسم کې له هغې نه زرغونې پاڼې وغوړوي!

ژوند پراونه لري؛

کله ترخه او کله هم خواږه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه دې هيلــه د خوښــيو عمــر مــو اوږ او د ســتونزو عمــر مــو لکــه د منــي رژيــدونکې ژيــړې پــاڼې واوسي؛

❖ ملغلره:
کـه تاسـې دومـره ګنـاوې وکـړئ چـې تـر آسـمانه ورسـيږي او بيـا توبـه وکـړئ الله ﷻ بـه مـو توبـه قبولـه کړي.

❖ حضرت على بن ابي طالب رضي الله عنه فرمايلي دي:
د هغه کس لپاره تعجب دی چي نجات ورسره وي خو دئ برباد سي!

چا ورته وويل: نجات څه شي دی؟ هغه وويل: الاستغفار "د الله څخه د بخښني غوښتنه کول

❖ دنيا:
حسن بصري وايي دنيا سپکه وګڼئ قسم پـه خـدای تـر هغـه بـه درانـده نشـئ تـر څـو مـو چـې دنيـا سـپکه نه وي ګڼلې.

❖ دری کلمات:
لـه دريـو کلمـاتو ځـان وژغـوره ! ځکـه پـه دې دريـو کلمـاتو ابلـيس، فرعـون او قـارون ازمويـل شـوي وو.

( زه )

شيطان ته امر وشو چي ادم عليه السلام ته سجده وکړه هغه وويل : ( زه له هغه نه غوره يم ) .

( زما )

داخبره فرعون کړې وه:( د مصر واک زما په لاس کې ده ).

( زما سره )

داخبر قارون کړې وه چې:ما ته دنيا په هغه علم سره راکړل شوې ده چې زه يې لرم .

بلکې همدا خبرې په دې ډول وکړه

(زه ) ګناه ګار اوخطاکار انسان يم اوپه دې اعتراف کوم .

(زما) جرمونه او خطاګانې خورا زياتې دي زه ډير بې وسه او لږ ځواکه يم.

خدايـه ( زمـا سـره ) چـې څـومره د ګنـاهونو پيټـې دي هغـه ټـول راتـه وبخښـه اوزمـا پټ اوښـکاره ټـول ګناهونه ر ا وبخښه .

❖ پر الله انتقاد :
لقمـان حکـيم پـه عمـل ښايسـته مګـر څيـره يـې بـدرنګې وه يـوه ورځ چـا ورتـه وويلـې اې لقمانـه څـومره بدرنګی يې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لقمان ورته وویل د هر شي خالق الله ده نو ته زما عیب لټوي که د الله عیب لټوي؟دا خو الهي فیصله ده چې زه باید دغسي اووسم نو ستا انتقاد پر ما نده بلکې پر الله ده.

❖ د گناه کیفیت:

که گناه رنگ درلودی نو هیڅا به د یوه بل صورت نشوی لیدلی

که گناه بوی درلودی نو هیڅوک به هم له تعفونه یو بل ته نشوی نږدي کیدلی دا هم د خدای رحمت ده چې گنا رنگ او بوی یي پوښلی خو په ستره ورځ به یي د ټولو په مخ کې رسوا کوي نو له گناه څخه وویریږه هغه هم د شاهد په مخ کې هغه شاهد چې سبا ستر قاضي ده.

❖ عقلمند:

حضرت سفیان بن عُیینه رحمه الله فرمایي:

عقلمند هغه نه دی، چې خیر او شر پیژني، بلکې عقلمند هغه دی، چې خیر وپیژني، نو ور پسې روان شي او چې شر وپیژني، نو ځان ترې منع کړي.

❖ د لمانځه کیفیت:

له حاتم اصم رحمه الله څخه یی د هغه د لمانځه د کیفیت اړوند پوښتنه وکړه ،

هغه وویل : کله چې د لمونځ وخت راشي ، له اودس وروسته چې کوم ځای لمونځ کوم هلته لاړ شم د لږ وخت لپاره کښېنم څو ټول بدن کی می سکون راشي ، بیا د لمونځ لپاره ودرېږم ،

په داسي ډول چې بیت الله د خپلو سترگو په منځ کې تصور کړم.

او پل صراط تر پښو لاندي ، جنت خپل ښي طرف ته او جهنم خپل چپ طرف ته

او د مرگ پرښته خپلي شا ته ولاړه تصور کوم ،

او وایم چې دا مي اخري لمونځ ده ، بیا په خشوع او عاجزی سره لمونځ کوم او وروسته دی منځ کی وایم چې معلومه نه ده لمونځ قبول شو او که نه .

❖ موسکا:

هیڅوک دومر مسکین ندي چې چاته مسکا و نشي کړی او هیڅوک دومره بډای نده چې موسکا ته ضرورت ونه لري

❖ ملغلري:

انس بن مالک رضي الله عنه وایي: موږ (صحابه و) باندې د ځمکې پر مخ رسول الله ﷺ له هر چا زیات گران و، هغه به چې راتلی، موږ به نه ورته ولاړیدو، ځکه موږ پوهیدو چې هغه ته دا کار خوند نه ورکوي

❖ د عبادت خوند:

حضرت بشر بن حارث رحمه الله فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هغو دعبادت خوند نه شي موندلی،

تر څو چې دخپل ځان او شهواتو ترمنځ کلک او مضبوط دېوال جوړ نه کړې.

❖ ابن سنا بلخی:

له داسي تېر سره مو کار ده چې فکر کوي خدای له دوی پرته هیچا ته لاربښوونه نده کړې

❖ ګوره يي نامرده:

کومه خبره چې د چا په وړاندې نشي کولی هغه خبره يي تر شا هم مه کوه ځکه دا غیبت ده او که دروغ ورپسي وايي دا تهمت ده نو پوه شه چې الله هر وخت ښه لیدونکی او اوریدونکی ده له هغه خو شرم وکړه.

❖ له تروشو خوړ شربت جوړ کړه:

امام احمد زندان ته واچول شو ووهل شو د حدیثو امام ترې جوړ شو

ابن الاثیر په خپل کور کي تر نظارت لاندي شو هلته يي جامع الاصول والنهایه ولیکه

امام سرخي د څاه تل ته وغورځول شو بیرته د فقهي له شل ټوکیز کتاب سره راوختلو

❖ پریشاني له کومه راځی ؟

ابن القیم ـ رحمه‌الله ـ وفرمایل:

غـــم، او پریشاني له دوه جهتونو حاصلیږي:

یو: دنیا ته تمایل او د هغي په نسبت حریص والی.

دوهم: له نیکو اعمالو او طاعت څخه غفلت.

❖ رسول الله ﷺ فرمايي*

” چا چې د جمعې په ورځ سورةَ الكهفِ ولوست نو د دواړو جمعو ترمنځ اندازه

رڼا به ورپه برخه کړی شي “ .

❖ په واک کي نه لرل:

حضرت مجدد الف ثاني وايي

چا چې نظر په کنترول کې نه وي زړه يي په کنترول کې نه وي د چا چې زړه په کنترول کې نه وي شرمګا يي په کنترول کي نه وي.

❖ د غټي بیزو عدالت:

دوه کوچنۍ بیزو ګاني د ډوډۍ په سر نه سره جوړیدي نو فیصله يي وکړه چې غټه بیزو به عدالت او فیصله وکړي غټي بیزو ته راغلو قضیه يي ورته وړاندې کړه غټي بیزو هم ډوډۍ نیمه کړه د ترازو په دواړو خواو کې يي کیښوده هغه طرف چې درنه وه يوه ګوله يي ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه بیا یي په ترازو کې کیښووله دا ځل دا بل طرف درونـد شو لـه دغـه طرفـه یي ګولـه وکـړه بیـا هغـه بـل طـرف درونـد شـو بیـا یـي ګولـه تـرې وکـړه پـه دغـه ترتیـب یـي کـرار کـرار د دواړو بیزوګـانو مخکـې ډوډۍ وخوړلـه دواړو بیزوګـانو یـو بـل تـه وکتـل مایوسـه د ځنګـل پخـوا وړ ي ولاړې

❖ ابن القیم رحمه‌الله:

« لـه زمـزم اوبـو نـه بـه مـي کاسـه ډکـه کـړه، څـو ځلـه مـي وربانـدې د فـاتحې سـوره تـلاوت کـړه، بیـا مـي هغـه اوبـه څښـلې؛ نـو داسـې ګټـه بـه يـې راتـه کولـه، چـې پـه نـورو درملـو کـې مـې دومـره فایده نه وه لیدلې.»

❖ بې ارزښته افتخار :

تـر ټولـو غلـط او نـاوړه افتخـار هغـه وی چـې یـو څـوک پـه داسـې شـي فخـر وکـړی چـې دَه یـې پـه لرلـو کـې هـیڅ رول نـه وی ادا کـړی لکـه ځیـره ، قـد ، رنـګ ، سـترګی ، قـوم ، نـژاد ، میراثـي شتمني او ډیر نور شیان

نـو کـه میـړه یـې پـه هغـو شـیانو فخـر وکـړه چـې تـا پخپلـه ګټلـي وی لکـه تقـوا ، انسـانیت ، علـم ، اخالق ، دینداري ، مهرباني ، شفقت ، زړه سوئ ، صداقت ، معافول او ډیر نور ارزښتونه

بس یوه پاکه اراده او فیصله غواړي

❖ دعا غوښتنه:

عائشه رضي الله عنها وایي:

یوه ورځ مې رسول الله ﷺ په ښه طبیعت کې ولیدو،

نـو ورتـه مـې وویـل: ای د الله رسـوله زمـا لپـاره دعـاء وغـواړه، نـو رسـول الله ﷺ وفـرمایل: " یـا رب العالـمین تـه عـائـشې تـه مخکـنې او وروسـتني، پـټ او ښـکاره ګناهـونه معـاف کـړه". عائشـې رضـي الله عنهـا دومـره وخـاندل چـې سـر یـې د رسـول الله ﷺ پـه غېـږ کـې ولـوېدو، نـو رسـول الله ﷺ ورتـه وویـل: "ایـا خـوشحاله شـوې؟". هغـې وویـل: ولـې بـه د رسـول الله ﷺ پـه دعـاء نـه خوشحالـېږم!!!! نـو رسـول الله ﷺ وفرمایـل: "پـه الله تعـالی قسـم زه پـه هـر لمانځـه کـې د خپل امت لپاره دغه دعاء غواړم".

❖ د قرانکریم زده کړه :

که د نړۍ ټولې خزانې د خپل اولاد په پښو کې وغورځوې.

دقیامت په ورځ به درنه تښتي خو چې قران ورته زده کړې

په قیامت به دې لټوي تر څو د عزت تاج دې په سر کیږدي...!

❖ القرني وایي:

د عربي نړۍ مشهور عالم دوکتور عائض القرني وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه درتــه د خپلــې پنځــوس کلنــې مطــالعې، تجربــې، تــدريس او ســفرونو وروســته څلــور لاربښوني کوم:
-مه خفه کيږه!
-مه وېرېږه!
-مه غوسه کيږه!
-مه بد ګومانه کيږه!

-مه خفه کيږه: پـه تېـر مـه خفـه کېږه! د تېـر فايـل وتـړه، د هېـري نـړۍ تـه يـې وسـپاره او ژونـد له نوي سره داسې پيل کړه، لکه همدا نن چې زېږېدلی يې.
-مـه وېرېـږه: د راتلـونکي پـه اړه انديښـنه مـه کـوه! راتلـونکی خپلـه راځـي. هڅـه وکـړه همـدا نـن نوښـت وکـړې، سبا سبا تـه پرېـږده د سبانۍ ورځـې ذمـه واري الله ﷻ اخيسـتې، څـوک چـې درتـه پـرون کـافي و، سبا هـم درتـه کـافي دی او چـا چـې پـه تېـر کـې و سـاتلې، راتلـونکي کـې دې هم ساتنه کوي.
-مـه غوسـه کيـږه: لـه غوسـې او را پارېـدو ځـان وسـاته، ځکـه دا دې اخـــلاق او لـه نـورو سـره اړيکــې خرابــوي، غوســه نيکــي لــه منځــه وړي، بــدي زيــاتوي او تقريبــاً د هــر شـــي لامـــل غوســـه ده.
-بـد مـــه ګنـه: تقـدير بـد مـه ګڼـه او پـه هغـه څـه چـې الله ﷻ درتـه ليکلـي دي، بلکـې پـه تقـدير راضـې او قـانع اوسـه چـې تـر ټولـو نېکمرغـه انسـان شـې. د الله تعـالی پـه وعـده ډاډ مـن او پـه حُکم يې راضي اوسه چې له امن، سکون او اطمنان ډک ژوند وکړې.

❖ د جهالت قيمت:
کـه فکـر کـوي چـې د زده کړولګښـت ډيـر دی نـو بيـا وګـورئ چـې جهالـت څـومره قيمتـه تماميږي.

❖ مـرغلـره:
رسول الله [ﷺ] فرمايلي دي د چا چې خفګان او غمونه زيات وي، نو دا ذکـر دې کـوي.

(لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ)

❖ مـرغـلـره:

رسول الله ﷺ فرمايي :

کله چي ماشوم راسته او چپه لاس سره وپيژني نو د لمانځه امر ورته وکړئ

❖ وخت او دولت:
حضـرت علـي (رض) ويلـي دي وخـت او دولـت دوه داسـي شـيان دي چـې د انسـان پـه اختيـار کې ندي وخت مو مجبور کوي دولت مو مغرور کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ يوه عالم څه ښه ويلي:

هغو خلكو ته ډير حيران يم چي د هغي دنيا تلاش كوي چي ورځ په ورځ تري ليري كيږي او د هغي دنيا څخه غافله ده چي ورځ په ورځ ور نږدي كيږي.

❖ د دنيا لپاره د چا عزت مكوه!

ژباړه: ابوبكر بن عياش وايي: څوک چي ددنيا د خاوند تعظيم وكړي نو ده په دين كي نوى شى پيدا كړ.

يعني د مال په خاطر د يو چا عزت كول داسي گناه لري لكه په دين كي د نوي شي او بدعت پيدا كول چي گناه لري.

❖ خداي ته شا گرځول :

په ښوونځي كي شاگرد له معلم څخه پوښتنه وكړه چي كه ته ما ته خداي راوښيي نو عبادت به ئي وكړم او تر څو چي خداي مي ليدلى نه وي عبادت ئي نه كوم.

استاد هم د صنف پاي ته ولاړ او هلته ودرېد او شاگرد ته ئي وويل چي آيا ما ويني ؟

شاگرد ورته وويل چي يا ، نه دي وينم . دا چي شا مي ستا خوا ته وي نو طبعا دي نه سم ليدلاى.

استاد هم دده خواته راغئ او داسي ئي ورته وويل :

تر څو چي خداي ته دي شا گرځولي وي ، هيڅكله به ئي هم ونه ويني !

❖ د متقيانو پنځه اخلاق: -

ژباړه: سري رحمه الله وايي: د متقيانو پنځه اخلاق دي: پر حلال شكر آداء كوي، د حرام څخه صبر كوي، ددي باک نكوي چي كله مړ كيږي، ددې باک نه كوي چي دنيا چا و خوړل او فقر او غنى ده ته يو شان وي.

يعني متقي انسان پر حلال مال باندي شكر آداء كوي ځكه چي حلال مال د الله عظيم نعمت دى، د حرام مال څخه صبر كوي او د پيدا كولو كوښښ يي نه كوي ځكه د حرام مال لپاره كوښښ كول ناروا دى، پدې باندي هيڅ پروا نه كوي چي كله دى مړ كيږي؟ ځكه مرگ حق دى او هر كله راتلاى سي، پدې باندي باک نه كوي چي دنيا چا و خوړل؟ ځكه دى خپله د دنيا سره شوق نلري او فقر او غنى هم دده په فكر يو شى وي.

❖ د فتنو نړۍ:

په داسي نړۍ كي ژوند كوو

كه دې ښه واوري پټوي يې...!

كه دې بد واوري نشروي يې...!

اوكه هيڅ وانه وري درپسي جوړوي يې ...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ امام ذهبي رحمه الله:

«لوړ مقام او ترټولو ښه مرتبه د هغه چا ده، چې د شپې له خوا ډېر وژاړي او د ورځې له خوا یې په شونډو موسکا خپره وي.»

❖ ژباړه:

هغوی چې په سختو شرایطو کې لږ تر لږه مسلمانانو ته اطمینان ورکوي او تل یې تندی ورین وي؛ د دوی هم مرتبه کمه نه ده.

❖ مالک بن دینار رحمه الله :

« کله دې چې زړه سخت/کلک شو، بدني ځواک دې کم او د رزق کموالی دې احساس کړ؛ لامل یې دا دی، چې په غیر مربوطه چارو کې دې خبرې کړې دي. په داسې کارونو دې کار لرلی دی، چې اصلاً تا پورې اړه نه لري.»

❖ علي الطنطاوي رحمه الله وایي:

که چیرې یو سړی یوه ورځپاڼه له اول نه تر اخره ولولي او بیا تري تاسو وپوښتئ: څه یې پکې لیکلي؟

که هغه ووايي: نه پوهیږم، د پوهیدلو په کیسه کې یې نه وم او نه یم.

نو تاسو به د دې سړي په هکله څه ووایاست؟ آیا دا کار به یې بد و نه ګڼئ؟

نو بیا ولې هغه څوک بد نه ګڼئ چې قرآن ته شپه او ورځ ناست وي له اول نه تر اخره یې تلاوت کړي، نه یې د پوهیدو په کیسه کې وي او نه ورباندې د عمل کولو په کیسه کې؟

دا مصیبت له کومې خوا راغی؟ مسلمانان د خپل قرآن نه ولې محروم شوي؟ حالانکې چې قرآن یې په مخکې پروت دې، لولي یې هم او اوري یې هم .

د یو مسلمان ورور اړتیا پوره کول:

مسعر بن کدام رحمه الله فرمايي:

زه له سفیان الثوري رحمه الله سره روان وم. چې یوه سړي له هغه څخه غوښتنه وکړل.

خو له هغه سره دومره څه نه وه چې سړي ته یې ورکړي وای.

پس سفیان الثوري رحمه الله وژړل.

چا ورته وویل: څه شي وژړولې؟

سفیان الثوري رحمه الله وویل: تر دې به بل ستر مصیبت کوم وي؟!

چې یو څوک تاته د خیر تمه ولري. خو له تا څخه هغه ته کوم خیر ونه رسیږي.

❖ *تـوبــه*

*نعمان بن بشیر رضي الله عنه وايي:*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*کله چې ستاسو کوم یو ګناه وکړي، نو پخپل لاس دې ځان د هلاکت کندې ته نه غورځوي،*

*هغه داسې چې ووایي زما توبه نه قبلیږي.*

*داسې نه ده الله تعالی ج خامخا ښنه کوي او توبه قبلوي، ځکه الله ښنونکی اومهربانه دی*.

په ابن ابي حاتم کې د حضرت مالک بن دینار رحمه الله قول مروي دی چې دینار ته ځکه دینار وایي چې هغه دین یعني ایمان هم دی او نار یعني اور هم دی، مطلب یې دا دی چې که په حق سره دینار واخلي نو دین دی او که یې پر ناحقه واخلي نو نار یعني د دوزخ اور دی. (دین نار)

❖ پیغمبر ﷺ وفرمایل:
په حقیقت کې، زړونه د اوسپنې په شان زنګ وهي. صحابه کرامو رضی الله عنه پوښتنه وکړه:

پالیش «پاکوونکی، یې څه شي دي؟
پیغمبرﷺځواب ورکړ:
د مرګ زیات یادول اودقرآنکریم تلاوتول.

❖ د مؤمن او فاجر توپیر:
فضیل رحمه الله فرمایي:

"مؤمن پرده کوونکی او خیر غوښتونکی وي، خو فاجر بې ستره کوونکی او پیغور ویونکی وي".

❖ هغه نسبي ښه شیان چې انسان ورڅخه بد وړي:
ژباړه: د محمود بن لبید څخه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: دوه شیان دي چې انسان ورڅخه بد وړي: انسان د مرګ څخه بد وړي پداسې حال کې چې تر فتنې مرګ ورته ښه دی او انسان د لږ مال څخه بد وړي پداسې حال کې چې د لږ مال حساب لږ دی.
یعنې د انسان د مرګ څخه بد راځي سره ددې چې ځینې وختونه انسان ته مرګ ښه وي لکه د فتنې په وخت کې چې مرګ انسان ته ښه دی او انسان د لږ مال څخه هم بد وړي سره ددې چې په آخرت کې د لږ مال حساب لږ او آسانه دی او د ډېر مال حساب ډېر او سخت دی.

❖ هغه څوک چې ملګرتیا باید ورسره ونکړې:
ژباړه: د سهل بن سعد څخه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: د هغه چا سره ملګرتیا مکوه چې ستا لپاره په هغه ارزښت باندې باور نلري کوم چې ته دده لپاره باور ورباندې لرې.
یعنې د هغه چا ملګرتیا مکوه چې تاته ارزښت نه درکوي، پر تا باندې تکبر کوي، ځان تر تا لوړ بولي او تاته په هغه ارزښت باندې قائل نه وي کوم چې ته دده لپاره وربانده قائل یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❖ بې عمله دعاء:

ژباړه: وهب بن منبه فرمايي: مثال د هغه چا چي بې عمله دعا کوي داسي دی لکه هغه څوک چي بې کمانه ويشتل کوي.
لکه بې کمانه چي ويشتل نه کيږي بې عمله دعا هم تر هيڅ ځايه پوري نسي رسېدلای، لومړی بايد انسان نيک اعمال وکړي وروسته بيا دعا وکړي.

❖ پر مسلمان باندي د ناحقه خبري سزا:

ژباړه: د ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي په مسلمان پوري ناحقه خبره وتړي چي دده عيب په ښکاره کوي الله تعالی به دی د همدغه کلمي په خاطر د قيامت په ورځ دوږخ ته واچوي.

نو کوښښ وکړئ چي په هيڅ مسلمان پسي بې ځايه خبري او تبليغات مکوئ او د هيڅ مسلمان د معيوب ښکاره کولو کوښښ مکوئ چي خدای مکړه په همدې سبب دوږخ ته داخل نسئ.

❖ د هر مسلمان بايد دغسي عقيده وي:

ژباړه: ابوحازم ته يو چا وويل: ای ابو حازمه ته نه وينې چي نرخونه څومره لوړ تللي؟ ابو حازم ورته ويل: ولي يې غم کوې هغه څوک چي په آرزانۍ کي يې رزق راکوی په ګرانۍ کي يې هم راکوي.

يعني الله تعالی د رزق ورکولو وعده کړېده لکه په آرزانۍ کي چي يې رزق راکوی په ګرانۍ او سختۍ کي يې هم راکوي.

د هر مسلمان بايد دغسي عقيده وي او هيڅ وخت وارخطا نسي خو بيا هم د اسبابو څخه د استفادې له کبله هر څوک بايد د نرخونو د کښته کولو لپاره کوښښ وکړي.

❖ *امام شافعي رضی الله عنه فرمايي:*

*څوک چي دخاتمې ښه والی غواړي، په خلکو دي نېک ګمان کوي.*

❖ *امام زهری رحمه الله فرمايي:*

*که چيري دنړۍ دټولو ښځو علم را جمع سي، دبي بي عائشې رضی الله عنها علم ته به ونه رسيږي.*

❖ *ابن القيم - رحمه الله تعالی -*

*که د الله ﷻ ستا د دعا دقبليدو اراده نه وای، بيا يې دعا نه درښووله.*

*قسم په اللهﷻجنت ته به داخل شي!:*

عبد الله بن عمر رضی الله عنه يوه سړي ته وويل: مور دې ژوندۍ ده؟ هغه ورته وويل: هو! ، ابن عمر ورته وويل: «هغې ته خوراک ورکوه، ښايسته او نرمې خبرې ورسره کوه، قسم په الله چي خامخا به جنت ته داخل شې»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه:

د بـیلا بیلـو اشخاصـو لـه ټیلګـرام چینلونـو؛ فیسـبوک پـاڼو او واټسـاف ګروپونـو څخـه اخیسـتل شـوی دي ځیني به یی د مثال په توګه یاد کړم:

عبدالصمد شاکر

استاد واصفي

مولوی نورالدین مظهري

# پـای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**